۲- هغه شخص چې له کورني ترانزیتي پړاو څخه په دوامداره توګه ګټه واخلي.

۳- هغه شخص چې مالي وضعیت یې د هغهٔ د ژمنو د پوره کولو متضمن وي.

۴- هغه شخص چې له ګمرکي اومالي قوانینو څخه دهېڅ ډول سرغړونو مرتکب شوی نوي.

۵- هغه شخص چې د ګمرک له مامورینو څخه د لیکل شوي لومړني غوښتنلیک په لاسته راوړلو سره، وعده

## معافیت از تضمین

**مادهٔ نود وپنجم:**

(۱) مامورین گمرک به اساس تقاضای شخص واجد شرایط ذیل می توانند، جهت پیشبرد فعالیت های ترانزیتی وی سند معافیت از تضمین مندرج مادهٔ نود وسوم این قانون را مطالبه نمایند:

۱- شخصی که در افغانستان مقیم باشد یا دفترثبت شده در افغانستان داشته باشد.

۲- شخصی که طور دوامدار از مرحلهٔ ترانزیتی داخلی استفاده کند.

۳- شخصی که وضعیت مالی اش متضمن ایفای تعهدات وی باشد.

۴- شخصی که مرتکب هیچگونه تخلفات از قوانین گمرکی یا مالی نگردیده باشد.

۵- شخصی که با حصول اولین درخواست کتبی از جانب مامورین گمرک، تعهد نماید که مبالغ واجب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي چې په خپل ترانزيتي فعاليت پورې اړوند واجب التأديه مبالغ له اړوند کړنلارې سره سم ورکوي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې دمعافيت درج شوی سند د لاندې مالونو د ترانزيتي فعاليتونو په هکله د تطبيق وړ ندی:

۱- هغه مالونه چې د دين مجموع اندازه يې له دوو سوو زرو افغانيو څخه زياته وي، ددې مبلغ اندازه د ماليې وزارت په وړانديز او د وزيرانو شورې په منظورۍ بدلون موندلای شي.

۲- هغه مالونه چې په افغانستان کې د تطبيق وړ وارداتي محصول داندازې په دليل، د خطر د زياتوالي لامل شي.

(۳) د ګمرکونو لوی رياست د ګمرکي تقنيني سندونو له په پام کې نيولو سره، له تضمين څخه د معافيت د سند د ورکولو واکمنه مرجع ده. د معافيت د سند د اعتبار موده شپږمياشتې ده او تصديق شوی نقل يې اړوندو اشخاصو ته صادرېږي. دغه موده د غځېدو وړ ده.

التأديه را در رابطه با فعاليت های ترانزيتی خود مطابق طرزالعمل مربوط می پردازد.

(۲) سند معافيت مندرج فقرۀ (۱) اين ماده درمورد فعاليت های ترانزيتی اموال ذيل قابل تطبيق نمی باشد:

۱- اموالیکه اندازۀ مجموع دين آن بيش از دوصد هزار افغانی باشد، اندازۀ اين مبلغ به اساس پيشنهاد وزارت ماليه و منظوری شورای وزيران تغيير کرده می تواند.

۲- اموالیکه به دليل اندازۀ محصول وارداتی قابل تطبيق در افغانستان، باعث ازدياد خطر گردد.

(۳) رياست عمومی گمرکات با نظر داشت اسناد تقنينی گمرکی، مرجع ذيصلاح اعطای سند معافيت از تضمين می باشد. مدت اعتبار سند معافيت شش ماه بوده و نقل تصديق شدۀ آن به اشخاص ذيربط صادر می گردد. اين مدت قابل تمديد می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ترانزيتي مالونو د مسئول شخص مكلفيت

**شپږنوي يمه ماده:**

د ترانزيتي مالونو خاوند(مالک) يا يې استازی مكلف دی، مالونه او مربوطه گمركي سندونه، له اړوندې كړنلارې سره سم، د هغو د هويت د تشخيص لپاره په معينه موده كې ټاكل شوي گمرک ته ، وړاندې كړي.

## د گمرک په گدامونو كې د مالونو ځای پر ځای كول

**اووه نوي يمه ماده:**

(۱) مالونه، په هغو گدامونو كې ځای پر ځای كېږي چې د گمرک د ادارې په واسطه ټاكل شوي او تر گمركي څارنې لاندې وي. هغه گدامونه چې مستقيماً د گمرک د مامورينو له لوري يا د گدامدار په واسطه په گمركي ساحه كې اداره كېږي، هم پدې حكم كې شامل دي.

(۲) لاندې مالونه د گمرک په گدامونو كې ځای پر ځای كېږي:

## مكلفيت شخص مسئول اموال ترانزيتی

**مادۀ نود وششم:**

مالک اموال ترانزيتی يا نمايندۀ وی مكلف است،اموال و اسناد گمركی مربوط را مطابق طرزالعمل مربوط در مدت معينه جهت تشخيص هويت آن به گمرک تعيين شده، ارايه نمايد.

## جابجا نمودن اموال در گدامهای گمرک

**مادۀ نود وهفتم:**

(۱) اموال، در گدام های كه توسط ادارۀ گمرک تعيين گرديده و تحت نظارت گمركی قرار دارد جابجا می گردد. گدام هايی كه مستقيماً از طرف مامورين گمرک يا توسط گدام دار در ساحۀ گمركی اداره می گردد، نيز شامل اين حكم است.

(۲) اموال ذيل در گدام های گمرک جابجا می گردد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- هغه غیر افغـــاني مالونـــه چـــې د وارداتي محصـــول يـــا د ســـوداګريز سياست د تدبيرونو تابع نه وي.

۲- افغاني صادراتي مالونه چـــې لـــه ګمرکي تقنيني سندونو سره سم، پـــه ګمرکي فعالو ګدامونو کې ځای پـــر ځای کېدل ايجاب کړي.

(۳) د ماليې وزارت کولای شـــي، د مالونو د اظهاروونکي د غوښـــتنليک پربنسټ، داسې حالتونه وټاکي چې له هغو سره سم ددې مادې په (۲) فقـــره کې درج شوي مالونه، د ګمرک پـــه ګدام کې د هغو له ايښودلو پرته، تـــر ګمرکي پړاوونو لاندې راشي.

## د ګدامونو ډولونه

**اته نوي يمه ماده:**

(۱) د ګمرک ګدامونه پـــه لانـــدې ډولونو سره جوړېږي:

۱- رسمي، د ماليې وزارت لخوا.

۲- عمومي، د مالونو د صادروونکو او واردوونکو د ګټې اخيســـتنې پـــه منظور، د اشخاصو لخوا.

۱- اموال غیرافغانی که تابع محصول وارداتی یا تدابیر سیاســـت تجـــارتی نباشد.

۲- اموال صادراتی افغانی که مطـــابق اسناد تقنینی گمرکی ایجاب جابجـــا شدن را در گدامهای فعال گمرکـــی نماید.

(۳) وزارت مالیه می تواند به اســـاس درخواســـت اظهارکننـــدۀ امـــوال، حالاتی را تعیین نمایـــد کـــه مطـــابق آن اموال مندرج فقرۀ(۲)ایـــن مـــاده بـــدون گذاشـــتن آن در گـــدام گمرک، تحـــت مراحـــل گمرکـــی قرارگرفته بتواند.

## انواع گدام ها

**مادۀ نود وهشتم:**

(۱)گدام های گمرک به اشکال ذیل تأسیس می گردد:

۱- رسمی، از طرف وزارت مالیه.

۲- عمومی، از طرف اشـــخاص بـــه منظـــور اســـتفاده صـــادرکنندگان و واردکنندگان اموال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- خصوصي، د اړوندو مالونو د ځای پر ځای کولو په منظور، د مالونو د خاوندانو لخوا.

(۲) ددې مادې د (۱) فقرې په (۲ او ۳) اجزاوو کې درج شوي ګدامونه، د ماليې وزارت په اجازه جوړېدای شي.

(۳) د ګدامونو د جوړېدو د اجازې د ورکولو ډول او له هغو څخه د ګټې اخيستنې شرايط په جلا کړنلاره کې تنظيمېږي.

## ګدامدار او د هغهٔ مکلفيت

نهه نوي يمه ماده:

د ګمرک ګدامدار د لاندې مکلفيتونو لرونکی دی:

۱- د هغو مالونو له ايستلو څخه مخنيوی چې د ګمرکي څارنې تابع وي. ددې قانون د يو سلو پنځمې مادې حکم، لدې امر څخه مستثني دی.

۲- له اړوندې کړنلارې سره سم، د مالونو د ځای پر ځای کېدو د پړاوونو د شرايطو تطبيقول.

۳- د سوابقو ساتل او په اړونده

۳- خصوصی، از طرف مالک اموال به منظور جابجا نمودن اموال مربوط.

(۲)گدام های مندرج اجزای (۲و۳) فقره (۱) این ماده به اجازهٔ وزارت مالیه تأسیس شده می تواند .

(۳) طرز اعطای اجازهٔ تاسیس گدام ها و شرایط استفادهٔ آن در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

## گدام دار و مکلفیت آن

مادهٔ نود ونهم:

گدام دار گمرک دارای مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- جلوگیری از خروج اموالیکه تابع نظارت گمرکی باشد. حکم مادهٔ یکصد وپنجم این قانون از این امر مستثنی است.

۲- تطبیق شرایط مراحل جابجا نمودن اموال مطابق طرزالعمل مربوط.

۳- حفظ سوابق و رعایت سایر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړنلاره کې د درج شوو نورو مکلفیتونو رعایتول.

## د ګمکې اجاره

**سلمه ماده:**

هغه ځمکې چې د عمومي او خصوصي ګدامونو د تأسیس لپاره په ګمرکي ساحه کې په اجاره اخیستل کیږي. د ارضیه رسم تابع ندي او د ګدامدار تر کنترول لاندې وي. هغه مالونه چې تر ګمرکي پړاوونو لاندې د راوستلو تر وخته په ګدام کې زېرمه کیږي. د هغو محصول به د هغهٔ اظهاروونکي پواسطه چې مالونه له ګمرکي ساحې څخه د ترخیص پړاو ته اظهاروي، ورکول کیږي.

## د حقوقو او مکلفیتونو لیږد

**یوسلو یوه یمه ماده:**

د ګدامدار حقوق او مکلفیتونه، هغهٔ شخص ته چې په اړونده کړنلاره کې د درج شوو شرایطو لرونکی وي، د ګمرک د واکمن مامور له موافقې وروسته، لیږدیدای شي.

مکلفیت های مندرج طرزالعمل مربوط.

## اجارهٔ زمین

**مادهٔ صدم:**

زمینی که برای تأ سیس گدام های عمومی و خصوصی در ساحهٔ گمرکی به اجاره گرفته میشود، تابع رسم ارضیه نبوده و تحت کنترول گدام دار قرار می گیرد. اموالی که در گدام الی زمان قرار دادن تحت مرحله گمرکی ذخیره می گردد، محصول آن توسط اظهار کنندهٔ که اموال را به مرحلهٔ ترخیص از ساحه گمرکی اظهار می نماید، پرداخته می شود.

## انتقال حقوق و مکلفیت ها

**مادهٔ یکصد ویکم:**

حقوق و مکلفیت های گدام دار، به شخصی که واجد شرایط مندرج طرزالعمل مربوط باشد، بعد از موافقهٔ مامور ذیصلاح گمرک منتقل شده می تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړي حالات

**یوسلو دوه یمه ماده:**

(۱) د ګمرک مامورین کولای شي، د اقتصـادي اړتیـا د موجودیـت او د ګمرکي څارنې د نه ګډ وډېـدو پـه صورت کې، د ګمرک په ګدامونو کې د لاندې مالونو د زېرمې اجازه ورکړي:

۱- ددې قانون د نهه اویایمې مادې د (۲) فقرې په (۲) جزء کې د درج شوو مالونو په استثناء افغاني مالونه، چې پدې حالت کې د ګمرک په ګدام کې د مالونو د ځای پـر ځـای کولـو د پړاوونو شرایط پر نوموړو مالونو نـه تطبیقېږي.

۲- غیر افغاني مالونه چې د ګمرک د ګدام په ساحه کې تر کورني پروسس یا د ګمرکي څارنې تر پروسس لاندې راشي. اړوند استثناآت په جلا کړنلاره کې توضیح کېږي.

(۲) ګدامدار مکلف دی، د ګمرک د مامورینو د غوښـتنې پربنسـټ، ددې مادې په (۱) فقره کـې درج شـوي

## حالات خاص

**مادۀ یکصد ودوم:**

(۱) مامورین گمـرک میتواننـد، در صورت موجودیت نیازمندی اقتصادی و عدم اخلال بر نظارت گمرکی، اجازه ذخیرۀ اموال ذیل را در گـدام هـای گمرک بدهند:

۱- امـوال افغـانی، بـه اسـتثنای اموال مندرج جـزء (۲) فقـرۀ (۲) مادۀ نود وهفـتم ایـن قـانون کـه در ایـن حالـت شـرایط مراحـل جابجـا کـردن امـوال در گـدام گمرک بالای اموال متـذکره تطبیـق نمی گردد.

۲- اموال غیر افغانی کـه در سـاحۀ گدام گمرک تحت پروسس داخلی یا پروسس تحت نظارت گمرکی قـرار می گیـرد .اسـتثناآت مربـوط در طرز العمل جداگانه توضیح می گردد.

(۲)گـدام دار مکلـف اسـت، بـه اساس تقاضـای مـامورین گمـرک، امـوال منـدرج فقـرۀ (۱) ایـن

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالونه، ددې قانون د نهه نوي یمې مادې د (۳) جزء له حکم سره سم، په اړوندو دفترونو کې ثبت او سجل کړي.

**په ګدام کې د مالونو د ساتنې موده**

**یوسلو دریيمه ماده:**

(۱) مالونه، د ځای پر ځای کېدو تر پړاوو لاندې تر دوولسو میاشتو پورې د ګمرک په ګدام کې ساتل کېدای شي. د ګمرک مامورین کولای شي، د اظهاروونکي د غوښتنلیک پربنسټ، د هغو ساتنه تر نورو دوولسو میاشتو پورې وغځوي.

(۲) د ګمرک مامورین کولای شي، د مالونو د خصوصیاتو یا نورو ځانګړو حالتونو له په پام کې نیولو سره، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې موده را لنډه کړي.پدې صورت کې اظهاروونکی مکلف دی، د نومړې مودې تر پایته رسېدو پورې د خپلو مالونو لپاره بل ګمرکي موقف وټاکي.

ماده را مطابق حکم جزء (۳ ) مادهٔ نودونهم این قانون در دفاتر مربوط ثبت و سجل نماید.

**میعاد نگهداری اموال در گدام**

**مادهٔ یکصد وسوم:**

(۱) اموال، الی مدت دوازده ماه تحت مرحلهٔ جابجا نمودن در گدام گمرک نگهداری شده میتواند. مامورین گمرک می توانند، به اساس درخواست اظهار کننده، نگهداری آن را الی دوازده ماه دیگر تمدید نمایند.

(۲) مامورین گمرک میتوانند، با نظر داشت خصوصیت اموال یا سایر حالات خاص، مدت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را کاهش دهند. در این صورت اظهار کننده مکلف است، الی ختم میعاد متذکره، موقف گمرکی دیگری را برای اموال خویش تعیین کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د گمرک په گدام کې د عملیو تطبیقول

**یوسلو څلورمه ماده:**

(۱)په گدام کې د ځای پر ځای کېدو تر پړاو لاندې مالونه، د ظاهري وضع او د کیفیت د ساتنې په منظور، تر عملیو لاندې د وېش یا خرڅلاو لپاره د هغوچمتو کول، چې په جلا کړنلاره کې ټاکل شوي راوستل کېدای شي.

(۲) اظهاروونکی مکلف دی، ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو عملیو څخه د گټې اخیستنې اجازه، دمخه د گمرک له ادارې څخه واخلي. د گمرک مامورین له عملیو څخه د گټې اخیستنې شرایط ټاکي.

## له گدام څخه د مالونو مؤقت ایستل

**یوسلو پنځمه ماده:**

(۱) هغه مالونه چې د گمرک په گدامونو کې د ځای پر ځای کېدو تر پړاو لاندې دي، د شرایطو له په پام کې نیولو سره، په مؤقت ډول له گدامونو

## تطبیق عملیه ها در گدام گمرک

**مادهٔ یکصد وچهارم:**

(۱) اموال تحت مرحلهٔ جابجا نمودن در گدام، به منظور حفاظت وضع ظاهری و کیفیت آن، آماده نمودن آن برای توزیع یا فروش تحت عملیه هادر طرزالعمل جداگانه تعیین گردیده، قرار گرفته می تواند.

(۲) اظهارکننده مکلف است، اجازهٔ استفاده از عملیه های مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را قبلاً از ادارهٔ گمرک اخذ نماید. مامورین گمرک شرایط استفاده از عملیه ها را تعیین می نمایند.

## خروج مؤقت اموال از گدام

**مادهٔ یکصد وپنجم:**

(۱) اموالی که تحت مرحلهٔ جابجا شدن در گدام های گمرک قرار دارند، با نظر داشت شرایط، مؤقتاً از گدامها خارج گردیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ایستل کېدای شي. پدې شرط چې د گمرک له مامورینو څخه د وتلو اجازه د مخه اخیستل شوې وي د ایستلو شرایط په اجازه لیک کې تصریح کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه، ددغهٔ قانون په یوسلو څلورمه ماده کې د درج شوو عملیو تابع کېدای شي.

## د مالونو لېږد

**یوسلوشپږمه ماده:**

د گمرک مامورین کولای شي، له یوهٔ گدام څخه بل ته د گمرک په گدامونو کې د ځای پر ځای کېدو تر پړاو لاندې مالونو د لېږدېدو اجازه ورکړي.

## په گدام کې د ځای پر ځای شوو مالونو گمرکي نرخ

**یوسلو اوومه ماده:**

(۱) که چېرې په گدام کې د مالونو د ځای پر ځای کولو او ساتنې لگښتونه، د مالونو له اصلي ورکړل شوې یا له ورکړې وړ بیې څخه په مجزاء صورت

می تواند. مشروط بر اینکه قبلاً اجازهٔ خروج آن از مامورین گمرک اخذ شده باشد. شرایط خروج در اجازه نامه تصریح می گردد.

(۲) اموال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده تابع عملیه های مندرج مادهٔ یکصد وچهارم این قانون قرار گرفته می تواند.

## انتقال اموال

**مادهٔ یکصد وششم:**

مامورین گمرک می توانند، اجازهٔ انتقال اموال تحت مرحلهٔ جابجا نمودن در گدامهای گمرک را از یک گدام به گدام دیگر گمرک اعطاء نمایند.

## نرخ گمرکی اموال جابجا شده در گدام

**مادهٔ یکصد وهفتم:**

(۱) هرگاه مصارف جابجا نمودن و نگهداری اموال در گدام از قیمت اصلی تأدیه شده یا قابل تأدیه اموال به صورت مجزاء نشان داده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ښودل شوي وي، دغه لګښتونه د مالونو د ګمرکي نرخ په محاسبه کې، نه شاملېږي.

(۲) که چېرې مالونه ددې قانون په یوسلو څلورمه ماده کې تر درج شوو عملیو لاندې راغلي وي، د اظهاروونکی د غوښتنلیک په صورت کې، د مالونو ډول، ګمرکي نرخ او کمیت، د وارداتي محصول د مبالغو د ټاکلو لپاره، ددې قانون په نوي یمه ماده کې د درج شوې نېټې په اعتبار، داسې محاسبه کېږي چې نومورې مالونه ددې قانون په یوسلو څلورمه ماده کې د درج شوو عملیو د بدلونونو تابع ګرځېدلي نه وي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې په درج شوو بدلونونو پورې اړوند استثناآت، په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

## کورنی(داخلي) پروسس

### یوسلو اتمه ماده:

لاندې وارداتي مالونه، تر کورني

شده باشد، این مصارف در محاسبهٔ نرخ گمرکی اموال، شامل نمی گردد.

(۲) هرگاه اموال تحت عملیه های مندرج مادهٔ یکصد وچهارم این قانون قرارگرفته باشد، در صورت درخواست اظهارکننده، نوعیت، نرخ گمرکی و کمیت اموال جهت تعیین مبالغ محصول وارداتی، با اعتبار تاریخ مندرج مادهٔ نودم این قانون، طوری محاسبه می گردد که اموال مذکور تابع تغییرات عملیه های مندرج مادهٔ یکصد وچهارم این قانون قرار نگرفته باشد.

(۳) استثناآت مربوط به تغییرات مندرج فقرهٔ (۲) این ماده، در طرز العمل جداگانه تنظیم می گردد.

## پروسس داخلی

### مادهٔ یکصد وهشتم:

اموال وارداتی ذیل، تحت پروسس

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروسس لاندې نیول کېږي:

۱- هغه تعلیقي مالونه چې د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه د هغو صادرول د جبیروي تولیداتو په ډول وي.

۲- هغه مالونه چې د ګمرکي محصول د بېرته ورکړې تر سیستم لاندې راغلي وي او د جبیروي تولیداتو پــه ډول د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه صـــادر شي.

## د کورني پروسس ډولونه

**یوسلو نهمه ماده:**

د مالونو کورنی پروسس عبارت دی له:

۱- د نصب، بسته بندۍ یا په نـــورو مالونو کې د هغو د ځای پر ځای کولو په شمول په مالونو باندې کار کول.

۲- ترمیم یا د مالونو د اصلي حالت اعاده.

۳- په اړونده کړنلاره کې له درج شوو ټاکلو مالونو څخه ګټه اخیستنه چې په جبیروي تولیداتو کې نه تشخیصـــېږي، خو د هغو تولید یې مجاز ګرځولی او یا یې تولید ته زمینه برابروي.

داخلی قرار می گیرد:

۱- اموال تعلیقی کــه صـــدور آن از قلمروگمرکی کشور به شکل تولیدات جبیروی باشد.

۲- اموالی که تحـت سیســتم بـــاز پرداخت محصـــول گمرکـــی قـــرار داشـــته و بـــه شـــکل تولیـــدات جبیروی از قلمروگمرکی کشور صادر گردد.

## انواع پروسس داخلی

**مادۀ یکصد ونهم:**

پروسس داخلی اموال عبارت است از:

۱- کار نمودن بالای اموال به شمول نصب، بسته بندی یا جابجا کردن آن در اموال دیگر.

۲- ترمیم یا اعـــادۀ حالـــت اصـــلی اموال.

۳- استفاده از اموال معین مندرج طرز العمل مربوط که در تولیدات جبیروی تشخیص نمی شوند، ولی تولید آن را مجاز ساخته ویا زمینه را برای تولید آن مساعد می سازد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کورني پروسس د جواز غوښتنلیک

**یوسلولسمه ماده:**

د کورني پروسس جواز، د مالونو د خاوند د لیکلي غوښتنلیک پربنسټ، تر دغو شرایطو لاندې، له اړوندې کړنلارې سره سم، د مالیې وزارت لخوا ورکول کیږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې غوښتنلیک ورکوونکی په افغانستان کې مېشت وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې وارداتي مالونه په جبیروي تولیداتو کې تشخیص شي، ددې قانون د یوسلو نهمې مادې د (۳) جزء حکم، لدې امر څخه مستثني دی.

۳- په هغهٔ صورت کې چې کورني پروسس د هېواد اقتصادي ګټې په ښه وجه تأمین کړي.

## د جبیروي تولیداتو صادرول

**یوسلو یوولسمه ماده:**

د ګمرک مامورین کولای شي هغه

## درخواست جواز پروسس داخلی

**مادهٔ یکصد ودهم:**

جواز پروسس داخلی به اساس درخواست کتبی مالک اموال، تحت شرایط ذیل از طرف وزارت مالیه طبق طرز العمل مربوط اعطاء می گردد:

۱- درصورتی که درخواست کننده مقیم افغانستان باشد.

۲- درصورتی که اموال وارداتی در تولیدات جبیروی تشخیص شده بتواند، حکم جزء (۳) مادهٔ یکصد و نهم این قانون از این امر مستثنی است.

۳- درصورتی که پروسس داخلی منافع اقتصادی کشور را به وجه احسن تأمین نماید.

## صدور تولیدات جبیروی

**مادهٔ یکصد ویازدهم:**

مامورین گمرک می توانند، مدتی را

(c) ketabton.com: The Digital Library



موده وټاکي چې په هغې کې جبیروي تولیدات صادر یا تر نوي ګمرکي موقف لاندې راغلي وي. پدې شرط چې دغه موده د پروسس یا د جبیروي تولیداتو د چمتو کولو لپاره، دګمرکي نوي موقف لپاره کافي وي.نوموړې موده د جواز لرونکي د غوښتنلیک پربنسټ، غځېدلای شي.

**د کورني پروسس د ثمرې میزان**

**یوسلو دوولسمه ماده:**

(۱) د ګمرک مامورین د کورني پروسس د ثمرې میزان یا یې د ټاکلو ډول د واقعي شرایطو پربنسټ چې پروسس په هغو کې پرمخ بیول کېږي، ټاکي.

(۲) د ثمرې د ستندرد میزان، په غوښتنلیک کې د درج شوو معلوماتو پربنسټ، په جواز کې ټاکل کېږي.

**تر کورني پروسس لاندې مالونو ورکېدل (مفقودي)**

**یوسلو دیارلسمه ماده:**

که چېرې په کورني پروسس کې شامل

تعیین نمایند که در آن تولیدات جبیروی صادر یا تحت موقف جدید گمرکی قرار گرفته بتواند. مشروط بر اینکه این مدت برای پروسس یا آماده نمودن تولیدات جبیروی برای موقف جدید گمرکی کافی باشد. میعاد متذکره به اساس درخواست دارندۀ جواز، تمدید شده می تواند.

**میزان ثمرۀ پروسس داخلی**

**مادۀ یکصد ودوازدهم:**

(۱) مامورین گمرک میزان ثمرۀ پروسس داخلی یا طرز تعیین آنرا به اساس شرایط واقعی که پروسس در آن پیش برده می شود، معین می نمایند.

(۲) میزان ستندرد ثمره به اساس معلومات مندرج درخواست در جواز تعیین می گردد.

**مفقودی اموال تحت پروسس داخلی**

**مادۀ یکصد وسیزدهم:**

هرگاه اموال شامل پروسس

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالونه پرته له بدلونه یا د جبیروي تولیداتو په ډول، ددې قانون په یوسلو یوولسمه ماده کې په درج شوې موده کې ورک شي، دغه مالونه آزاد دوران ته ترخیص ګڼل کېږي او د کورني پروسس د جواز لرونکی د نوموړو مالونو د ګمرکي اظهارلیک په وړاندې کولو او د هغو د ګمرکي دین په ورکولو مکلف دی.

## د جبیروي تولیداتو بیا واردول

### یوسلو څوارلسمه ماده:

(۱) هغه جبیروي تولیدات چې له صادرېدو وروسته، بیا واردېږي، د ګمرکي محصول تابع دي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مالونو ګمرکي دین د واردوونکي د غوښتنې پربنسټ، ددې قانون د یوسلو دیارلسمې مادې له حکم سره سم، ټاکل کېږي.

داخلی بدون تغییر یا به شکل تولیدات جبیروی در میعاد مندرج مادۀ یکصد و یازدهم این قانون مفقود گردد، این اموال به دوران آزاد ترخیص پنداشته شده و دارندۀ جواز پروسس داخلی مکلف به ارایۀ اظهارنامۀ گمرکی اموال مذکور و تأدیۀ دین گمرکی آن می باشد.

## ورود مجدد تولیدات جبیروی

### مادۀ یکصد وچهاردهم:

(۱) تولیدات جبیروی که بعد از صدور، مجدداً وارد می گردد، تابع محصول گمرکی می باشد.

(۲) دین گمرکی اموال مندرج فقرۀ (۱) این ماده به اساس درخواست واردکننده، مطابق حکم مادۀ یکصد و سیزدهم این قانون تعیین می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کورني پروســـس د جبیـــروي تولیداتو ګمرکي محصول

**یوسلو پنځلسمه ماده:**

(۱) جبیـــروي تولیـــدات د یوشـــان وارداتي مالونو د عین محصول تـــابع دي.

(۲) که چېرې ترجیحي تعرفه پر یوشان وارداتي مالونو باندې له هغو څخـــه د نظر وړ ګټې اخیستنې له په پام کې نیولو سره تطبیق شي، جبیروي تولیدات هم د عین ترجیحي تعرفې تابع دي.

(۳) که چېرې وارداتي مالونـــه، ددې قانون د څلوېښتمې مادې له حکم سره سم، له محصول څخه معـــاف شـــي، جبیروي تولیدات هم له محصول څخه معافېږي.

(۴) د مالیې وزارت کولای شـــي، د جبیروي تولیداتو د محصول اندازه، په هغو حالاتو کې چې د جبیروي تولیدات د اړوندو تعلیقي مالونو د محصول لـــه اندازې څخه کم شي، وټاکي.

## محصول گمرکی تولیدات جبیروی پروسس داخلی

**مادۀ یکصد وپانزدهم:**

(۱) تولیدات جبیـــروی تـــابع عـــین محصول امـــوال یکســـان وارداتـــی می باشد.

(۲) هرگاه تعرفۀ ترجیحی بر امـــوال یکسان وارداتی با نظرداشت اســـتفادۀ مورد نظر از آن تطبیق گردد، تولیدات جبیروی نیز تابع عین تعرفۀ ترجیحـــی می باشد.

(۳) هرگـــاه امـــوال وارداتـــی مطابق حکم مادۀ چهلم ایـــن قـــانون از محصـــول معـــاف گـــردد، تولیدات جبیروی نیز از محصول معاف می شود .

(۴) وزارت مالیه می توانـــد، انـــدازۀ محصول تولیـــدات جبیـــروی را در حالاتیکه تولیدات جبیروی کمتـــر از اندازۀ محصول اموال تعلیقی مربـــوط گردد، تعیین نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له هېواد څخه بهر ته د بیا پروسس په غرض د کورني پروسس د جبیروي تولیداتو صادرول**

**یوسلو شپاړسمه ماده:**

د جبیروي تولیداتو یا له بدلون پرته مالونو ټوله یا یوه برخه،ددې قانون له یوسلو یو دېرشمې څخه تر یوسلو شپږ دېرشمې مادو پورې له درج شوو حکمونو او اړوندې کړنلارې سره سم، د ګمرک د مامورینو د اجازې له اخیستلو وروسته د زیات پروسس لپاره په مؤقته توګه، بهرنیو هېوادونو ته صادرېدای شي.

**د ګمرکي محصول د بېرته ورکړې موارد**

**یوسلو اووه لسمه ماده:**

(۱) د ګمرکي محصول د بېرته ورکړې له سیستم څخه ګټه اخیستنه، ددې قانون په یوسلو لسمه ماده کې د درج شوي جواز پربنسټ، مجاز ده. هغه مالونه چې د هغو واردول د کمیتي محدودیتونو تابع وي، له دې امر څخه

**صدور تولیدات جبیروی پروسس داخلی غرض پروسس مجدد به خارج کشور**

**مادۀ یکصد وشانزدهم:**

تمام یا قسمتی از تولیدات جبیروی یا اموال بدون تغییر، مطابق احکام مندرج مواد یکصد و سی و یکم الی یکصد و سی و ششم این قانون و طرز العمل مربوط، بعد از اخذ اجازۀ مامورین گمرک جهت پروسس مزید طور مؤقت به کشورهای خارجی صادر شده می تواند.

**مواردباز پرداخت محصول گمرکی**

**مادۀ یکصد وهفدهم:**

(۱) استفاده از سیستم باز پرداخت محصول گمرکی به اساس جواز مندرج مادۀ یکصد ودهم این قانون، مجاز میباشد.اموالیکه تورید آن تابع محدودیت های کمیتی باشد، از این امر مستثنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستثني دي.

(۲) د ګمرکي محصول بېرته ورکړه د هغو مالونو له محصول څخه چې د ګمرکي محصول د بېرته ورکړې له سيستم سره سم، عملاً ورکړل شوې ده، زياتېدای نشي.

## د ګمرکي محصول د بېرته ورکړې اظهارليک

### يوسلو اتلسمه ماده:

د ګمرکي محصول د بېرته ورکړې له سيستم څخه استفاده په ګمرکي اظهارليک کې مشخصه شوېده او د جواز نقل يې چې ددې قانون د يوسلو لسمې مادې له حکم سره سم ورکړل شوی دی، له هغهٔ سره ضميمه کېږي.

## هېواد ته د کورني پروسس د جبيروي توليداتو بېرته نه واردول

### يوسلو نولسمه ماده:

که چېرې جبيروي توليدات چې ددې قانون د يوسلو شپاړسمې مادې له حکم سره سم، مؤقتاً صادر شوي وي او په ټاکلې موده کې بيا وارد نشي، ددې

است .

(۲) بازپرداخت محصول گمرکی از محصول اموالیکه مطابق سیستم باز پرداخت محصول گمرکی عملاً تأدیه گردیده، بیشتر بوده نمی تواند.

## اظهار نامهٔ باز پرداخت محصول گمرکی

### مادهٔ یکصد وهجدهم:

استفاده از سیستم باز پرداخت محصول گمرکی در اظهار نامهٔ گمرکی مشخص گردیده و نقل جواز آن که مطابق حکم مادهٔ یکصد ودهم این قانون اعطاء شده، با آن ضمیمه می گردد.

## عدم ورود مجدد تولیدات جبیروی پروسس داخلی به کشور

### مادهٔ یکصد ونزدهم:

هر گاه تولیدات جبیروی مطابق حکم مادهٔ یکصد وشانزدهم این قانون مؤقتاً صادر گردیده باشد و در مدت معینه مجدداً وارد نگردد، تابع حکم مادهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون د یوسلو شلمې مادې د حکم تابع دي.

## د ګمرکي محصول بیرته ورکړه

**یوسلو شلمه ماده:**

(۱) که چیرې له کورني پروسس څخه د ګټې اخیستنې شرایط په پام کې ونیول شي، د جبیروي تولیداتو ورکړل شوی وارداتي محصول د صادرېدو پر وخت، ددې قانون په یوسلو اتلسمه ماده کې درج شوي جواز لرونکي ته بیرته ورکول کیږي.

(۲) د ګمرکي محصول د بیرته ورکړې د غوښتنې موده، تر یوه کاله پورې ده، خو دا چې په جواز کې لږه موده درج شوې وي.

که چیرې مالونه د بیرته ورکړې د مودې تر پایته رسیدو پورې، د ګمرکي محصول د بیرته ورکړې تر سیستم لاندې صادر نشي، مالونه آزاد دوران ته د ترخیص شوو مالونو په توګه ګڼل کیږي.

یکصد وبیستم این قانون می باشد.

## بازپرداخت محصول گمرکی

**مادهٔ یکصد وبیستم:**

(۱) هرگاه شرایط استفاده از پروسس داخلی رعایت گردد، محصول وارداتی تأدیه شدهٔ تولیدات جبیروی حین صدور آن به دارندهٔ جواز مندرج مادهٔ یکصد و هجدهم این قانون باز پرداخت می گردد.

(۲) میعاد مطالبهٔ بازپرداخت محصول گمرکی الی یکسال می باشد، مگر اینکه در جواز میعاد کمتر درج گردیده باشد.

هرگاه اموال الی ختم میعاد بازپرداخت، تحت سیستم باز پرداخت محصول گمرکی صادر نگردد، اموال بحیث اموال ترخیص شده به دوران آزاد پنداشته می شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د گمرک تر پلټنې لاندې پروسس

**يوسلو يوويشتمه ماده:**

د گمرک تر پلټنې لانـــدې پروســـس، ددې قانون د يوسلو نهمې مــادې لـــه حکم سره ســـم ، د تعليقـــي مـــالونو پروسس، پرته لدې چـــې د گمرکـــي محصول يـــا ســـوداگريز سياســـت د تدبيرونو تابع شي، مجاز گرځوي. پدې شرط چې پر جبيروي توليداتو باندې د تطبيق وړ محصول آزاد دوران ته د هغو د ترخيص پر وخت د وارداتي يوشـــان مالونو په څېر متناسباً ورکړل شي.

## د گمرک تر پلټنې لاندې پروسس جواز

**يوسلو دوه ويشتمه ماده:**

د گمرک تر پلټنې لاندې پروسس جواز د مالونو د خاوند د ليکلي غوښتنليک پربنسټ، له اړوندې کړنلارې سره سم، تر دغو شرايطو لاندې د ماليې وزارت لخوا ورکول کېږي:

۱– غوښـــتنليک ورکـــوونکی دې افغانستان مېشت وي.

## پروسس تحت بازرسی گمرک

**مادهٔ يکصد و بيست ويکم:**

پروسس تحت بازرسی گمرک مطابق حکم مادهٔ يکصد ونهم ايـــن قـــانون، پروسس اموال تعليقی را بدون اينکـــه تابع محصول گمرکی يا تدابير سياست تجـــــارتی شـــــود، مجـــــاز می گردانـــد. مشـــروط بـــر اينکـــه محصـــــول قابـــــل تطبيـــــق بـــــر توليدات جبيروی حين ترخيص آن بـــه دوران آزاد مانند اموال يکسان وارداتی متناسباً تأديه شود.

## جواز پروسس تحـــت بازرســـی گمرک

**مادهٔ يکصد وبيست ودوم:**

جواز پروسس تحت بازرسی گمرک به اساس درخواست کتبی مالک اموال، از طرف وزارت ماليه طبـــق طرزالعمـــل مربوط تحت شـــرايط ذيـــل اعطـــاء می گردد:

۱– درخواست دهنده مقيم افغانستان باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- تعليقي مالونه دې پــه جبيــروي توليداتو کې د تشخيص وړ وي.

۳- له اقتصادي نظره، تــر پروســس لاندې مالونو اوصاف اوحالت د هغو له پروسس وروسته، اعاده کېدای نشي.

۴- له پروسس څخه ګټه اخيســتنه، د هېواد اقتصادي ګټې په ښه توګه تأمين کړای شي.

## د ګمرکونو تر پلټنې لاندې پروسس د جواز محتوي

**يوسلو درويشتمه ماده:**

د ګمرکونو تر پلټنې لاندې پروســس جواز، د لاندې محتوياتو لرونکی دی:

۱- ددې قانون په يوسلو دوه ويشتمه ماده کې د درج شوو شرايطو رعايتول.

۲- ددې قانون په يوسلو دوولسمه ماده کې درج، د ثمرې د ستندرد د ميــزان ټاکل.

۳- د هغې نېټې يادول چې د هغې پــه ترڅ کې جبيروي توليدات نوي ګمرکي موقف ته پرېښودل کېږي.

۲- اموال تعليقی در توليدات جبيروی قابل تشخيص باشد.

۳- اوصاف و حالت امــوال تحــت پروسس از نظــر اقتصــادی بعــد از پروسس آن اعاده گرديده نتواند.

۴- اســتفاده از پروســس، منــافع اقتصادی کشور را به وجه احسن تأمين نموده بتواند.

## محتوای جواز پروســس تحــت بازرسی گمرکات

**مادۀ يکصد وبيست وسوم:**

جواز پروسس تحت بازرسی گمرکات دارای محتويات ذيل می باشد:

۱-رعايت شرايط مندرج مادۀ يکصد و بيست ودوم اين قانون.

۲- تعيــين ميــزان ســتندرد ثمــرۀ مندرج مادۀ يکصد ودوازدهــم ايــن قانون.

۳- ذکر تــاريخ کــه در خــلال آن توليدات جبيروی به موقــف جديــد گمرکی واگذار می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بې بدلونه یا د پروسس تر منځنیو پړاوونو لاندې مالونو د ګمرکي دین د اندازې ټاکل**

**یوسلو څلېریشتمه ماده:**

د بې بدلونه یا د پروسس تر منځنیو پړاوونو لاندې مالونو د ګمرکي دین اندازه د هغو مالونو په څېر چې آزاد دوران ته د ګمرک تر څارنې لاندې د پروسس د اظهارلیک د منلو په وخت کې ترخیص شوي، ټاکل کېږي.

**د ګمرکونو تر پلټنې لاندې پروسس د جبیروي تولیداتو محصول**

**یوسلو پنځه ویشتمه ماده:**

(۱) جبیروي تولیدات په وارداتي یوشان مالونو باندې د محصول د عین اندازې تابع یا د ترجیحي تعرفې د تطبیق وړ دي.

(۲) د سوداګریز سیاست تدبیرونه چې پر یوشان وارداتي مالونو باندې تطبیقېږي، د جبیروي تولیداتو په اړه د تطبیق وړ ندي.

**تعیین اندازۀ دین گمرکی اموال بدون تغییر یا تحت مراحل وسطی پروسس**

**مادۀ یکصد وبیست وچهارم:**

اندازۀ دین گمرکی اموال بدون تغییر یا تحت مراحل وسطی پروسس مانند اموالیکه در زمان پذیرش اظهار نامۀ پروسس تحت نظارت گمرک به دوران آزاد ترخیص گردیده ، تعیین می شود .

**محصول تولیدات جبیروی پروسس تحت بازرسی گمرکات**

**مادۀ یکصد وبیست وپنجم:**

(۱) تولیدات جبیروی تابع عین اندازۀ محصول یا تعرفۀ ترجیحی قابل تطبیق بر اموال یکسان وارداتی می باشد.

(۲) تدابیر سیاست تجارتی که بر اموال یکسان وارداتی تطبیق می گردد، در مورد تولیدات جبیروی قابل تطبیق نمی باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مؤقت تورید پړاو

**یوسلو شپږویشتمه ماده:**

(۱) د مالونو مالک په هغهٔ صورت کې له مؤقت تورید څخه ګټه اخلي چې د هېواد په ګمرکي قلمرو کې د مالونو د موجودیت په وخت کې، له نورمال استهلاک څخه پرته، په هغو کې بدلون وارد نکړي.

د مالونو له مؤقت تورید څخه د ګټې اخیستنې شرایط او ډول او د هغهٔ د جواز صادرول په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

(۲) له مؤقت تورید څخه ګټه اخیستنه په ګمرکي اظهارلیک کې مشخصه او د جواز کاپي يې له هغهٔ سره ضمیمه کېږي.

## د مؤقت تورید له پړاو څخه د ګټې اخیستنې شرایط

**یوسلو اووه ویشتمه ماده:**

(۱) د غیر افغاني مالونو په هکله مؤقت تورید، تر دغو شرایطو لاندې، تطبیقېږي:

## مرحلهٔ تورید مؤقت

**مادهٔ یکصد وبیست وششم:**

(۱) مالک اموال در صورتی از تورید مؤقت مستفید می گردد که حین موجودیت اموال در قلمرو گمرکی کشور، بدون استهلاک نورمال، تغییر در آن وارد نگردد.

شرایط و طرز استفاده از تورید مؤقت اموال و صدور جواز آن در طرز العمل جداگانه تنظیم می گردد.

(۲) استفاده از تورید مؤقت در اظهارنامهٔ گمرکی مشخص گردیده و کاپی جواز با آن ضمیمه می گردد.

## شرایط استفاده از مرحلهٔ تورید مؤقت

**مادهٔ یکصد و بیست وهفتم:**

(۱) تورید مؤقت درمورد اموال غیر افغانی تحت شرایط ذیل، تطبیق می گردد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- مالونه په آسانۍ سره تشخیص شي. هغه حالات چې د تشخیصیه تدبیرونو نه موجودیت د مالونو د عملیې یا د ماهیت له په پام کې نیولو سره له پړاو څخه له ناوړې ګټې اخیستنې څخه را پیدا نشي، لدې امر څخه مستثني دي.

۲- د مؤقت تورید تر پړاو لاندې له دوولسو میاشتو څخه زیات د مالونو نه پاتې کېدل، خو دا چې موده یې د مؤجهو دلایلو پر بناء تر نورو دوولسو میاشتو پورې وغځېږي.

۳- په مالونو کې بدلون متصور وي، هغه حالات چې د ګټې اخیستنې له امله په نورماله توګه له منځه ولاړ شي، لدې امر څخه مستثني دي.

(۲) د مالونو د صادرېدو د مودې ټاکل د ګمرک د مامورینو واک دی، په داسې ډول چې ټاکل شوې موده د مالونو د مؤقت تورید د پړاو د مجوزه ګټې اخیستنې په منظور، کافي وي. د مالونو اظهاروونکی مکلف دی د پړاو اظهارلیک یا نوی ګمرکي موقف د ټاکلې مودې له پایته رسېدو دمخه یا په

۱- اموال به آسانی تشخیص گردیده بتواند. حالاتیکه عدم موجودیت تدابیر تشخیصیه با نظر داشت ماهیت اموال یا عملیه به سوء استفاده از مرحله ناشی نگردد، از این امر مستثنی است.

۲- اموال تحت مرحله تورید مؤقت برای بیشتر از دوازده ماه باقی نماند، مگر اینکه میعاد آن بنا بر دلایل مؤجه برای الی دوازده ماه دیگر تمدید گردد.

۳- تغییر دراموال متصور باشد، حالاتیکه اموال از اثر استفاده بطور نور مال از بین برود از این امر مستثنی است .

(۲) تعیین میعاد صدور اموال از صلاحیت مامورین گمرک بوده، به نحوی که میعاد تعیین شده به منظوراستفاده مجوزه مرحلۀ تورید مؤقت اموال کافی باشد.اظهار کنندۀ اموال مکلف است اظهارنامۀ مرحله یا مؤقف جدید گمرکی را قبل از ختم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواز کې د درج شوو شرایطو د نه په پام کې نیولو په صورت کې، وړاندې کړي.

(۳) د وزیرانو شورې کولای شي، د مالیې وزارت د وړاندیز پربنسټ، په هغو خاصو مواردو کې چې د هېواد اقتصادي ګټې يې ایجاب کړي، تر شپږو کلونو مودې پورې د مؤقت تورید تر پړاو لاندې د مالونو پاتې کېدل منظور کړي.

(۴) هغه مالونه چې په مؤقت ډول واردېږي، تر نورو ګمرکي پړاوونو لاندې د هغو تر نیولو پورې، د غیر افغاني مالونو د حیثیت لرونکي دي.

## د مالونو د مؤقت تورید د محصول معافیت

**یوسلو اته ویشتمه ماده:**

(۱) د مؤقت تورید تر پړاو لاندې د وارداتي محصول له بشپړ معافیت څخه لاندې مالونه، ګټه اخلي:

۱- هغه مالونه چې د مؤقت تورید د پړاو تر پایته رسېدو پورې، په افغانستان

موعد معینه یا در صورت عدم رعایت شرایط مندرج جواز، ارایه نماید.

(۳) شورای وزیران میتواند، به اساس پیشنهاد وزارت مالیه در موارد خاصی که منافع اقتصادی کشور ایجاب نماید، باقی ماندن اموال تحت مرحله تورید مؤقت را برای مدت الی شش سال منظور نماید.

(۴) اموالی که طور مؤقت وارد می گردد، الی قرار گرفتن آن تحت سایر مراحل گمرکی، حیثیت اموال غیر افغانی را دارا می باشد.

## معافیت محصول تورید مؤقت اموال

**مادهٔ یکصد وبیست وهشتم:**

(۱) اموال ذیل از معافیت کامل محصول وارداتی تحت مرحلهٔ تورید مؤقت، مستفید می گردد:

۱- اموالیکه الی ختم میعاد مرحلهٔ تورید مؤقت، بازار مناسب فروش پیش

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د خرڅلاو پیشبیني شوی مناسب بازار ونلري.

۲- هغه وسایل چې مؤقتاً د مالونو د ترمیم یا تعویض لپاره واردېږي.

۳- له اړوندې کړنلارې سره سم، موسیقي، هنري او سپورتي وسایل.

(۲) هغه مالونه چې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شرایطو لرونکي نه وي، د مؤقت تورید تر پړاو لاندې مالونو د وارداتي قسمي محصول معافیت، ورته ورکول کېدای شي.

(۳) هغه مالونه چې د مؤقت تورید تر پړاو لاندې نشي راتلای، په اړونده کړنلاره کې پیشبیني کېږي.

## له قسمي معافیت سره د مؤقت تورید تر پړاو لاندې مالونو د ورکړې وړ محصول

**یوسلو نهه ویشتمه ماده:**

(۱) له قسمي معافیت سره د مؤقت تورید تر پړاو لاندې د مالونو وارداتي محصول، د هرې میاشتې په وړاندې، د هغۀ ګمرکي محصول په سلو کې درې

بینی شده را در افغانستان نداشته باشد.

۲- وسایلی که مؤقتاً برای ترمیم یاتعویض اموال وارد می گردد.

۳- وسایل موسیقی، هنری و سپورتی طبق طرز العمل مربوط.

(۲) اموالیکه حایز شرایط مندرج فقرۀ (۱) این ماده نباشد، معافیت قسمی محصول وارداتی اموال تحت مرحلۀ تورید مؤقت، برایش اعطاء گردیده میتواند.

(۳) اموالیکه تحت مرحلۀ تورید مؤقت قرارگرفته نمی تواند، در طرزالعمل مربوط پیش بینی می گردد.

## محصول قابل تأدیه اموال تحت مرحلۀ تورید مؤقت با معافیت قسمی

**مادۀ یکصد وبیست ونهم:**

(۱) محصول وارداتی اموال تحت مرحلۀ تورید مؤقت با معافیت قسمی، در برابر هر ماه، سسه فیصد (۳٪) محصول گمرکی است که از تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٪ ۳) دی چې د مؤقت ورید تر پړاو لاندې د مالونو د راوستلو له نېټې څخه، د ورکړې وړ دی.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي محصول ټول مبلغ، آزاد دوران ته د مالونو د ترخیص په صورت کې، له ترلاسه کېدو وړ مبلغ څخه، له قسمي معافیت سره د مؤقت ورید تر پړاو لاندې د مالونو د راوستلو له نېټې څخه، زیات(متجاوز) نه وي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه، د ګمرکي دین تر بشپړې ورکړې پورې، د غیر افغاني مالونو په توګه پېژندل کېږي.

## د مؤقت ورید تر پړاو لاندې مالونو د ګمرکي موقف بدلون

**یو سلو دېرشمه ماده:**

(۱) د مؤقت ورید تر پړاو لاندې تعلیقي مالونه، تر نوي ګمرکي موقف لاندې نیول کېدای شي، پدې شرط چې نوی ګمرکي اظهارلیک، د مؤقت ورید د پړاو د مودې تر پایته رسېدو دمخه،

قراردادن اموال تحت مرحلهٔ ورید مؤقت، قابل تأدیه می باشد.

(۲) مبلغ مجموعی محصول مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، در صورت ترخیص اموال به دوران آزاد از مبلغ قابل حصول، ازتاریخ قرار دادن اموال تحت مرحلهٔ ورید مؤقت با معافیت قسمی، متجاوز نمی باشد.

(۳) اموال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده الی تأدیه کامل دین گمرکی، بحیث اموال غیر افغانی پنداشته می شود.

## تغییر موقف گمرکی اموال تحت مرحلهٔ ورید مؤقت

**مادهٔ یکصد وسی ام:**

(۱) اموال تعلیقی تحت مرحلهٔ ورید مؤقت، تحت موقف گمرکی جدید قرار گرفته میتوانند، مشروط بر اینکه اظهارنامهٔ جدید گمرکی قبل از ختم میعاد مرحلهٔ ورید مؤقت ارایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې شي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې، هغه مبلغ چې ددې قانون د يوسلو نهه ويشتمې مادې له حکم سره سم، ورکړل شوی دی، له ګمرکي دين څخه وضع کېږي.

(۳) د مؤقت توريد جوازلرونکی د مالونو د خرڅلاو يا د مالونو د لېږد په صورت کې، مکلف دی ددې قانون په يوسلو نهه ويشتمه ماده کې درج شوی وارداتي محصول يا د نوي ګمرکي موقف محصول ورکړي.

## بهرنی پروسس

### يوسلو يو دېرشمه ماده:

تر بهرني پروسس لاندې افغاني مالونه، په مؤقته توګه د پروسس لپاره د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه بهرته صادرېدای شي.د مؤقت الصدور مالونو په نوم يادېږي. له دغه ډول پروسس څخه ترلاسه شوي بېرته راګرځېدونکي مالونه، د محصول په راکمېدو(تخفيف) سره ، د هېواد په ګمرکي قلمرو کې

گردد.

(۲) در حالت مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، مبلغی که مطابق حکم مادۀ يکصد وبيست ونهم اين قانون تأديه شده، از دين گمرکی وضع می گردد.

(۳) دارندۀ جواز مرحلۀ توريد مؤقت در صورت فروش يا انتقال اموال، مکلف است محصول وارداتی مندرج مادۀ يکصد و بيست ونهم اين قانون يا محصول موقف گمرکی جديد را تأديه نمايد.

## پروسس خارجی

### مادۀ يکصد وسی ويکم:

اموال افغانی تحت پروسس خارجی که به صورت مؤقت از قلمرو گمرکی کشور جهت پروسس به خارج صادر شده می تواند، بنام اموال مؤقت الصدور ياد می گردد، اموال بازگشت شده حاصله از چنين پروسس با تخفيف محصول، در قلمرو گمرکی کشور به دوران آزاد ترخيص گرديده

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزاد دوران ته ترخیصېدلای شي.

## د بهرني پروسس د جواز غوښتنلیک

یوسلو دوه دېرشمه ماده:

(۱) د بهرني پروسس جواز د غوښتونکي د لیکلي غوښتنلیک پربنسټ، د مالیې وزارت لخوا، له اړوندې کړنلارې سره سم، تر دغو شرایطو لاندې صادرېږي:

۱- غوښتنلیک ورکوونکی د افغانستان استوګن وي.

۲- له مؤقت الصدور مالونو څخه د جبیروي تولیداتو د ترلاسه کېدو تصدیقول د امکان وړ وي. ددې حکم استثناآت په اړونده کړنلاره کې تصریح کېږي.

۳- بهرنی پروسس د صادراتو هڅونه او د هېواد نورې اقتصادي ګټې په ښه توګه تأمین کړي.

۴- د افغاني مالونو مؤقت صادرول، د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه د افغاني مالونو پر صادرولو د تطبیق وړ حکمونو

می تواند.

## در خواست جواز پروسس خارجی

مادۀ یکصد وسی ودوم:

(۱) جواز پروسس خارجی به اساس درخواست کتبی مالک اموال از طرف وزارت مالیه طبق طرزالعمل مربوط تحت شرایط ذیل صادر می گردد:

۱- درخواست کننده مقیم افغانستان باشد.

۲- تصدیق حصول تولیدات جبیروی از اموال مؤقت الصدور، امکان پذیر باشد. استثناآت این حکم در طرزالعمل مربوط تصریح می گردد.

۳- پروسس خارجی، تشویق صادرات و سایر منافع اقتصادی کشور را به وجه احسن تأمین نماید.

۴- صدور مؤقت اموال افغانی، تابع احکام قابل تطبیق بر صدور اموال افغانی از قلمرو گمرکی کشور

(c) ketabton.com: The Digital Library



تابع وي.

۵- د ګمرکــي محصــول د بېرتــه ورکړې تر سیستم لاندې مالونه، د هغې مودې په ترڅ کې چې تر بهرني پروسس لاندې دي، ددې قانون په یوسلو شلمه ماده کې د درج شوې بېرته ورکــړې تابع نه وي.

۶- هغه غیر افغاني مالونه چــې ددې قانون د دري اتیایمې مادې له حکم سره سم، ترخیص او تر بهرنــي پروســس لاندې راشي. تر هغهٔ وخته له ترجیحي تعرفې څخه ګټه اخیستلای شي چې د ورکولو شرایط یې د تطبیق وړ وي.

(۲) که چېرې د بهرني پروسس په پایله کې، داسې مالونه تولید شي چې د هغو په ترکیب کې غیر افغاني مالونــه وي، پدې صورت کــې پــه جــواز کــې تصدیقبېري چې له دغهٔ پړاو څخه ګټــه اخیستنه، د افغاني مــالونو خرڅــونې هڅوي پرته لدې چې له واردو شــوو جبیروي تولیداتو سره د کورنیو مؤلدینو د یوشان یا ورتــه تولیــداتو لرونکــو اقتصادي ګټې پــه نــا متناســب ډول

باشد.

۵- امــوال تحــت سیســتم بــازپر داخت محصول گمرکــی در خــلال مدتی که تحــت پروســس خــارجی قرار دارد، تابع بازپرداخــت منــدرج مادهٔ یکصد و بیســتم ایــن قــانون نباشد.

۶- اموال غیر افغانی که مطابق حکم مادهٔ هشتاد وسوم این قانون ترخیص و تحت پروسس خارجی قرار گیــرد، از تعرفهٔ ترجیحی تا زمانی مستفید شــده میتواند که شرایط اعطــای آن قابــل تطبیق باشد.

(۲) هرگاه در نتیجهٔ پروسس خارجی، امــــوالی تولیــــد گــــردد کـــــه در ترکیب آن امــوال غیــر افغــانی باشد، در ایــن صــورت در جــواز تصدیق می گــردد کــه اســتفاده از این مرحله فروشات امــوال افغــانی را تشــویق نمــوده، بــدون اینکــه منــافع اقتصــادی مؤلــدین داخلــی دارای تولیدات یکســان یــا مشــابه با تولیدات جبیروی وارد شده را بطور

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیانمنې کړي.

(۳) د مؤقت صادرېدو د پړاو موده دوولس میاشتې ده او یوازې د مؤجهو دلایلو پر بناء د نورو دوولسو میاشتو لپاره غځېدای شي.

**د بهرني پروسس د جواز محتوي**

**یوسلو دري دېرشمه ماده:**

د بهرني پروسس جواز، د لاندې محتویاتو لرونکی دی:

۱- د هغې نېټې یادول چې له هغې سره سم جبیروي تولیدات د پروسس د اجراء لپاره، لازم وخت ته په پام سره، د هېواد ګمرکي قلمرو ته بیا وارد شي.

۲- د ثمرې د ستندرد د میزان یادونه.

۳- د غوښتنلیک د وړاندې کولو په وخت کې د مؤقت الصدور مالونو د بیې یادونه.

**د بهرني پروسس د جبیروي تولیداتو وارداتي محصول**

**یو سلو څلور دېرشمه ماده:**

(۱) تر بهرني پروسس لاندې د جبیروي تولیداتو وارداتي محصول، د مؤقت

غیر متناسب متضرر نماید.

(۳) میعاد مرحلهٔ صدور مؤقت دوازده ماه بوده و بنا بر دلایل مؤجه صرف برای دوازده ماه دیگر تمدید شده می تواند.

**محتوای جواز پروسس خارجی**

**مادهٔ یکصد وسی وسوم:**

جواز پروسس خارجی، دارای محتویات ذیل میباشد:

۱- ذکرتاریخی که مطابق آن تولیدات جبیروی با نظرداشت زمان لازم برای اجرای پروسس به قلمرو گمرکی کشور، مجدداً تورید گردد.

۲- ذکر میزان ستندرد ثمره.

۳-ذکر قیمت اموال مؤقت الصدور حین ارایه درخواست.

**محصول وارداتی تولیدات جبیروی پروسس خارجی**

**مادهٔ یکصد وسی وچهارم:**

(۱) محصول وارداتی تولیدات جبیروی تحت پروسس خارجی از مدرک ازدیاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



الصدور مالونو په بيه کې د زياتوالي له درکه چې ددې قانون د اته ويشتمې مادې له حکم سره سم، محاسبه کېږي اخيستل کېږي.

که چېرې په بيه کې زياتوالی په سلو کې له پنځه سلنې(٪ ۵) څخه کم وي، د محصول د ورکړې تابع نه ګرځي.

(۲) د جبيروي توليداتو وارداتي محصول، پر تعرفوي طبقاتو د تطبيق وړ تعرفوي نرخ پربنسټ، سنجول کېږي.

## په بهرني پروسس کې په وړيا توګه د مالونو ترميم

يوسلو پنځه دېرشمه ماده:

(۱) که چېرې له بهرني پروسس څخه موخه، د مؤقت الصدور مالونو ترميمول وي، جبيروي توليدات له وارداتي محصول څخه په بشپړ معافيت سره، ازاد دوران ته ترخيص کېږي، پدې شرط چې مالونه له عقد شوو موافقه ليکونو څخه د رامنځته شوو مکلفيتونو په علت يا له ضمانت څخه د راپيداشوو حقوقي مکلفيتونو او يا د توليدي

در قيمت اموال مؤقت الصدور که مطابق حکم مادۀ بيست و هشتم اين قانون محاسبه می گردد، اخذ می شود.

هرگاه ازدياد در قيمت کمتر از پنج فيصد (٪۵) باشد، تابع پرداخت محصول نمی گردد.

(۲) محصول وارداتی توليدات جبيروی به اساس نرخ تعرفوی قابل تطبيق بر طبقات تعرفوی، سنجش می گردد.

## ترميم اموال طور مجانی در پروسس خارجی

مادۀ يکصد وسی وپنجم:

(۱) هرگاه هدف از پروسس خارجی، ترميم اموال مؤقت الصدور باشد، توليدات جبيروی با معافيت کامل از محصول وارداتی به دوران آزاد ترخيص می گردد، مشروط بر اينکه اموال به علت مکلفيت های ناشی از موافقتنامه های منعقده يا مکلفيت های حقوقی ناشی از ضمانت ويا بنابر نقايص

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمگړتیاوو پربناء په وړیا توګه تــرمیم شي او پدې هکله د ګمرک مــامورینو قناعت کړی وي.

(۲) که چېرې آزاد دوران تــه د درج شوو مالونو د ترخیص په لومړي پــړاو کې، د ګمرکي دین په ټــاکلو کــې د مالونو نقص یا عیب په پام کې نیــول شوی وي، ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي معافیت څخه ګټه نشــي اخیستی.د نه وړ یا(غیر مجاني) ترمیم په صورت کې، د ترمیم شوو مالونو په بیه کې د زیاتوالي د ټاکلو په منظور، د لګښت سندونه وړاندې کېږي.

## د بهرني پروسس د جواز د امتیازاتو لېږد

**یوسلو شپږ دېرشمه ماده:**

د بهرني پروسس د جــواز لرونکــی کولای شي، د مالیې وزارت له موافقې وروسته د خپل جواز امتیاز، د شرایطو لرونکو افغانستان مېشت اشخاصو تــه ولېږدوي.

تولیدی، بصورت رایگان ترمیم گردیده و در مورد مامورین گمرک قناعــت نموده باشند.

(۲) هرگاه در مرحلــهٔ اول تــرخیص امــوال بــه دوران آزاد نقــص یــا عیب اموال در تعیین دیــن گمرکــی در نظــر گرفتــه شــده باشــد، از معافیــت منــدرج فقــرهٔ (۱) ایــن ماده مستفید شــده نمــی توانــد. در صورت تــرمیم غیــر مجــانی، بــه منظور تعیین ازدیاد در قیمت امــوال ترمیم شده، اسناد مصــرف ارایــه می گردد.

## انتقال امتیازات جــواز پروســس خارجی

**مادهٔ یکصد وسی وششم:**

دارندهٔ جواز پروسس خارجی می تواند، بعد از موافقهٔ وزارت مالیــه امتیــاز جواز خود را بــه اشــخاص واجــد شــرایط مقــیم افغانســتان انتقــال دهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغاني مالونو صادرول

**يوسلو اووه دېرشمه ماده:**

(۱) افغاني مالونه د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه له وتلو دمخه، په اړوند ګمرک کې د صادرېدو د اظهارليک په وړاندې کولو سره، د صادرېدو تر پړاو لاندې راځي، سرحدي ګمرک د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه د صادرو شوو مالونو وتل تر څارنې لاندې نيسي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه، په هغهٔ صورت کې ترخيص کېدای شي چې اظهارليک، عين هغه شرايط چې د مالونو د اظهار په وخت کې منل شوي وو، ولري.

(۳) هغه مالونه چې د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه د خرڅلاو يا قطعي لګښت په مقصد ايستل کېږي (قطعي صادرات) او هغه مالونه چې تر د ودانولو يا بشپړولو او په نندارتون کې د ګډون په منظور تر خاصو شرايطو لاندې او په مشخص منظور په مؤقتي ډول له هېواد څخه بهر شي (مؤقت صادرات) دي.

## صدور اموال افغانی

**مادهٔ يکصد وسی وهفتم:**

(۱) اموال افغانی که قبل از خارج شدن از قلمرو گمرکی کشور، در گمرک مربوط با ارایهٔ اظهارنامهٔ صدور، تحت مرحلهٔ صدور قرار می گيرد، گمرک سرحدی خروج اموال صادر شده را از قلمرو گمرکی کشور تحت نظارت قرار می دهد.

(۲) اموال مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده در صورتی ترخيص شده می تواند که اظهار نامه ،عين شرايطی را که درزمان اظهار اموال پذيرفته شده بود، دارا باشد.

(۳) امواليکه به مقصد فروش يا مصرف قطعی از قلمرو گمرکی کشور خارج می گردند (صادرات قطعی) و امواليکه به منظورتعمير يا تکميل و شرکت در نمايشگاه ها تحت شرايط خاص و به منظور مشخص طور مؤقتی از کشور خارج گردند (صادرات مؤقت) می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قطعي او مؤقت صادراتو په تگـــلارو پورې اړوند شرايط په جلا کړنلاره کې تنظيمېږي.

**د غير افغاني مالونو صادرېدل**

**يوسلو اته دېرشمه ماده:**

غير افغاني مالونه د نوي اظهارليک له وړاندې کولو پرته يا تر گمرکي څارنې لاندې د صادرېدو له پړاو څخـــه پـــه تبعيت سره، صادرېږي.

## لسم فصل

### آزادې حوزې او گدامونه

**د آزادو حوزو مفهوم**

**يوسلو نهه دېرشمه ماده:**

آزادې حوزې او گدامونه او له محصول څخه معاف پلـــورنځي( duty free shop)، د هېواد له گمرکي قلمـــرو څخه جلا برخه گڼل کېږي او په هغـــو کې د وارداتي محصول د وضع کولو او له غيـــر افغـــاني مـــالونو ســـره د سوداگريز سياست د تدابيرو په منظور، په داسې ډول معامله کېږي چې گواکې د هېواد په گمرکي قلمرو کې واقـــع

شرايط مربوط به رويه هاى صـــادرات قطعى و مؤقت در طرزالعمل جداگانه تنظيم مى گردد.

**صدور اموال غيرافغانى**

**مادۀ يکصد وسى وهشتم:**

اموال غيرافغانى بدون ارايه اظهارنامۀ جديد يا به تبعيت از مرحلـــۀ صـــدور تحـــت نظـــارت گمرکـــى، صـــادر مى گردد.

## فصل دهم

### حوزه ها و گدام هاى آزاد

**مفهوم حوزه هاى آزاد**

**مادۀ يکصد وسى ونهم:**

حـــوزه هـــا و گـــدام هـــاى آزاد و فروشگاه هاى معـــاف از محصـــول (Duty free shop) بخشـــى مجزا از قلمـــرو گمرکـــى کشـــور شناخته ميشود و در آن بـــه منظـــور وضع محصـــول وارداتـــى و تـــدابير سياست تجارتى با اموال غير افغـــانى طور معامله صورت مى گيرد که گويا درقلمـــرو گمرکـــى کشـــور واقـــع

(c) ketabton.com: The Digital Library



ندي.

افغاني مالونه له اړوندې کړنلارې سره سم، دغو ساحو ته ننوتی شي.

## د آزادو حوزو ټاکل

### يوسلو څلوېښتمه ماده:

(۱) د ماليې وزارت کولای شـي، د هېواد د ګمرکي قلمرو ځينې برخې د آزادو حوزو په توګه وټاکي او په هغو کې د ودانيو جوړولو ته اجازه ورکړي.

(۲) په هره آزاده حوزه يا ګدام پورې د اړوندو ساحو څلور خواوې او د ننوتلو او وتلو نقطې دقيقاً د مـاليې وزارت لخوا ټاکل کېږي. د اجازه ليک لرونکی مکلف دی، اړونده حوزه يـا ګـدام مستور کړي.

(۳) د ماليې وزارت کولای شـي، د هېواد په ګمرکي قلمرو کې له محصول څخه د معاف پلورنځيو د پرانيسـتلو اجازه، د هغو مالونو د پلورنې په منظور، چې له ګمرکي محصول څخه معـاف دي، ورکړي. له آزادو پلورنځيو څخه د ګټې اخيسـتنې ډول، پـه اړونـده

نباشد.

اموال افغانی مطابق طرزالعمل مربوط به اين ساحات داخل شده می تواند.

## تعيين حوزه های آزاد

### مادۀ يکصد وچهلم:

(۱) وزارت ماليه می تواند، قسـمت های از قلمرو گمرکی کشور را بحيث حوزه های آزاد تعيين و اجازۀ اعمـار ساختمانها را در آن بدهد.

(۲) حدود اربعۀ ساحات متعلق به هر حوزه يا گدام آزاد و نقاط دخـولی و خروجی دقيقاً از طرف وزارت ماليـه تعيين می گردد. دارندۀ اجـازه نامـه مکلف است، حوزه يا گدام مربوط را مستور نمايد.

(۳) وزارت ماليـه ميتوانـد، اجـازۀ گشايش فروشـگاه هـای معـاف از محصول را در قلمرو گمرکی کشـور به منظور فروش اموال که از محصول گمرکی معاف اند، اعطاء نمايد. طرز استفاده از فروشـگاه هـای آزاد در طرزالعمـل مربـوط تنظـيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړنلاره کې تنظیمېږي.

**په آزادو حوزو کې ګمرکي څارنه او پلټنه**

**یوسلو یو څلوېښتمه ماده:**

(۱) آزادې حوزې، ګدامونــه او لــه محصول څخه معاف پلورنځي، د هغو حدود او د ننوتلو او وتلــو نقطــې، د ګمرکي مامورینو د څارنې او پلټنې تابع دي.

(۲) اشخاص او نقلیه وســـایط چـــې آزادو حوزو یا ګدامونو ته ننوځي یا له هغو څخه ووځي، د ګمرکي پلټنې تابع دي.

(۳) که چېرې اشخاص، هغه تضـــمین چې د ګمرکي تقنیني سندونو پر موجب لازم ګڼل کېږي، وړاندې نکړي. لــه آزادو حوزو یا ګدامونو څخه ګټه نشي اخیستی.

(۴) آزادو حوزو یا ګدامونو ته د مالونو د ننوتلو یا وتلو پــه وخــت کــې، د لېږدونې د سند نقل له مــالونو ســره ضمیمه کېږي، ګمرکي مــامورینو تــه

می گردد.

**نظارت و تفتیش گمرکی در حوزه های آزاد**

**مادۀ یکصد و چهل ویکم:**

(۱) حوزه هــا، گــدام هــای آزاد و فروشگاه های معــاف از محصــول، حدود و نقاط دخولی و خروجــی آن، تابع نظارت و بازرسی مامورین گمرک می باشد.

(۲) اشخاص و وسایط نقلیۀ کــه بــه حوزه ها یا گدام های آزاد، داخل یا از آن خارج می گردند، تــابع تفتــیش گمرکی می باشند.

(۳) هرگاه اشخاص، تضمینی را که به موجب اسناد تقنینــی گمرکــی لازم شمرده میشــود، ارایــه ننماینــد. از حوزه ها یا گدام های آزاد اســتفاده کرده نمی توانند.

(۴) حین دخول یــا خــروج امــوال به حوزه یا گــدام هــای آزاد، نقــل سند انتقال ضمیمۀ امــوال گردیــده، بـــه مـــامورین گمـــرک ارایـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کېږي.

## د مالونو د ننوتلو يا وتلو شرايط

**يوسلو دوه څلوېښتمه ماده:**

(۱) ممنوعه مالونه يا هغه مالونه چې عامه خونديتوب يا روغتيا ته ګواښ متوجه کوي، آزادو حوزو او ګدامونو يا له ګمرکي محصول څخه معاف پلورنځيو ته د ننوتلو اجازه نلري.

(۲) هغه مالونه چې آزادو حوزو او ګدامونو يا له ګمرکي محصول څخه معاف پلورنځيو ته ننه ايستل يا ورڅخه ايستل کېږي، د ګمرک مامورينو ته احضارېږي او تر هغهٔ وخته پورې چې مالونه تر ګمرکي پړاو لاندې رانشي، د مالونو مسئول شخص د اظهارليک په وړاندې کولو مکلف ندی، د هغو مالونو بيه چې تر ګمرکي پړاو لاندې راځي، ددې قانون د اته ويشتمې مادې له حکم سره سم، سنجول کېږي.

(۳) که چېرې مالونه د هېواد د ګمرکي قلمرو له نورو برخو څخه آزادو حوزو

می شود.

## شرايط دخول و خروج اموال

**مادهٔ يکصد وچهل ودوم:**

(۱) اموال ممنوعه و اموالی که به مصئونيت يا صحت عامه خطری را متوجه می سازد، اجازهٔ دخول به حوزه ها و گدام ها ی آزاد و فروشگاه های معاف از محصول گمرکی را ندارد.

(۲) اموالی که به حوزه ها وگدام ها ی آزاد يا فروشگاه های معاف از محصول داخل ويا از آن خارج می شود، به مامورين گمرک احضارگرديده و تا زمانيکه اموال تحت مرحلهٔ گمرکی قرار نگيرد، شخص مسئول اموال مکلف به ارايه اظهار نامه نمی باشد. قيمت اموالی که تحت مرحله گمرکی قرار می گيرد، مطابق حکم مادهٔ بيست و هشتم اين قانون سنجش می گردد.

(۳) هرگاه اموال از ساير قسمت های قلمرو گمرکی کشور به حوزه ها

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ګدامونو یا له محصول څخه معاف پلورنځیو ته ننه ایستل شي د ګمـــرک مامورین مالونه لـــه مخنیو(ړومبنیـــو) ګمرکي پړاوونو څخه آزاد او افغـــاني مالونه د صادرېدو تر پړاو لاندې راولي، خو دا چې په ګمرکي تقنیني ســـندونو کې بل ډول تصریح شوي وي.

(۴) هغه افغاني مالونه چې لـــه آزادو حوزو او ګدامونو یا له محصول څخه معاف پلورنځیو څخه د هېواد د ګمرکي قلمرو نورو برخو ته بهر کېږي، د هغو ګمرکي دین ددې قانون د یوسلو څلور دېرشمې مادې له حکم ســـره ســـم، محاسبه کېږي.

(۵) مالونه له اړوندې کړنلارې ســـره سم، له آزادو حوزو او ګدامونو یا لـــه محصول څخه معاف پلورنځیو څخه د صادرېدو په منظور، د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه ایستل کېدای شي.

وگدام های آزاد یا فروشگاه های معاف از محصول داخل گـــردد، مـــامورین گمرک اموال را از مراحل گمرکـــی قبلی آزاد و اموال افغـــانی را تحـــت مرحله صدور قرار می دهند، مگر اینکه در اسناد تقنینی گمرکی طور دیگـــری تصریح شده باشد.

(۴) اموال افغانی که از حوزه هـــا و گدام ها ی آزاد یا فروشگاه های معاف از محصول به سایر قسمت های قلمرو گمرکی کشور خارج میشـــود، دیـــن گمرکی آن مطابق حکم مادۀ یکصد و سی و چهارم ایـــن قـــانون محاســـبه می گردد.

(۵) اموال مطابق طرزالعمل مربوط از حوزه ها و گدام ها ی آزاد یا فروشگاه های معاف از محصول، بـــه منظـــور صدور از قلمرو گمرکی کشور خارج شده می تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په آزادو حوزو کې د مالونو د ګمرکي تصنيف تصديق ليک

**يوسلو دري څلوېښتمه ماده:**

(۱) د ګمرک مامورين د مالونو د مسئول شخص د غوښتنې پربنسټ، کولای شي، آزادو حوزو او ګدامونو يا له ګمرکي محصول څخه معاف پلورنځيو د دننه مالونو ګمرکي تصنيف تصديق ليک برابر کړي.

(۲) که چېرې د مالونو د ګمرکي تصنيف تصديق ليک يا نور اثباتوونکي مدارک وړاندې کېدای نه شي. پدې صورت کې د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه د صادرېدو په منظور، مالونه افغاني او د هېواد د ګمرکي قلمرو نورو برخو ته د ننه ايستلو په منظور، مالونه غير افغاني ګڼل کېږي.

## د وخت له ټاکلو پرته د مالونو باقي پاتې کېدل

**يوسلو څلور څلوېښتمه ماده:**

مالونه، په آزادو حوزو او ګدامونو يا له ګمرکي محصول څخه په معاف

## تصديقنامهٔ تصنيف گمرکی اموال در حوزه های آزاد

**مادهٔ يکصد وچهل وسوم:**

(۱) مامورين گمرک به اساس درخواست شخص مسئول اموال ميتوانند، تصديقنامهٔ تصنيف گمرکی اموال داخل حوزه هاو گدام های آزاد يا فروشگاه های معاف از محصول گمرکی را تهيه نمايند.

(۲) هرگاه تصديقنامه يا ساير مدارک اثبات کنندهٔ تصنيف گمرکی اموال ارايه شده نتواند، در اين صورت به منظور صدور از قلمرو گمرکی کشور، اموال افغانی و به منظور دخول به ساير قسمت های قلمرو گمرکی کشور، اموال غير افغانی دانسته می شود.

## باقی ماندن اموال بدون تعيين وقت

**مادهٔ يکصد وچهل وچهارم:**

اموال در حوزه ها و گدام ها ی آزاد يا فروشگاه های معاف از محصول

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلورنځيو کې، د وخت له ټاکلو پرته، باقي پاتې کېدای شي، خو دا چې په اړونده کړنلاره کې بل ډول تصريح شوي وي.

**مجاز فعاليتونه**

**يوسلو پنځه څلوېښتمه ماده:**

(۱) په آزادو حوزو او ګدامونو يا له محصول څخه په معاف پلورنځيو کې د صنعتي، سوداګريزو او خدماتي فعاليتونو سرته رسول، ددې قانون د يوسلو څلورمې مادې د حکم له په پام کې نيولو پرته او په ګمرکي تقنيني سندونو کې درج له پېشبيني شوو شرايطو سره سم، مجاز دي.

(۲) په آزادو حوزو کې د اختراع يا اکتشاف حق، سوداګريز نښې (علايم)، د مؤلف، مصنف، هنرمند او محقق د حق د ساتلو په هکله، د اړوندو قوانينو حکمونه په پام کې د نيولو وړ دي.

(۳) د ګمرک مامورين کولای شي، د اړوندو مالونو د ماهيت او ګمرکي څارنې د مقتضياتو په پام کې نيولو سره،

ګمرکی، بدون تعيين وقت، باقی مانده می تواند، مگر اينکه در طرزالعمل مربوط، طور ديگری تصريح گرديده باشد.

**فعاليت های مجاز**

**مادۀ يکصد وچهل و پنجم:**

(۱) انجام فعاليت های صنعتی، تجارتی و خدماتی در حوزه ها وگدام های آزاد يا فروشگاه های معاف از محصول، بدون رعايت حکم مادۀ يکصد وچهارم اين قانون و مطابق شرايط پيش بينی شدۀ مندرج سايراسناد تقنينی گمرکی، مجاز می باشد.

(۲) در مورد حفظ حق اختراع يا اکتشاف، علايم تجارتی، حق مؤلف، مصنف، هنرمند ومحقق در حوزه های آزاد، احکام قوانين مربوط قابل رعايت می باشد.

(۳) مامورين گمرک ميتوانند، با در نظر داشت ماهيت اموال مربوط و مقتضيات نظارت گمرکی، محدوديت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې مادې په (۱) فقره کــې د درج شوو فعالیتونو د پرمخ بیولو په هکلــه، لازم محدودیتونه وضع کړي.

## منظور شوی ثبت

**یوسلو شپږ څلوېښتمه ماده:**

هغه اشخاص چې په آزادو حــوزو او ګدامونو یا له محصول څخه په معــاف پلورنځیو کې د مالونو په زېرمه کولو یا ددې قانون د یوسلو پنځه څلوېښـــتمې مادې په (۱) فقره کې په درج شـــوو نورو فعالیتونو لاس پورې کوي، مکلف دي، چې د تسلیمۍ په وخت کې هغـــه ثبت او د ګمـــرک د مــامورینو لـــه لارښوونې سره سم، یې وساتي.

## د مصرف شوو او ورکـــو شـــوو مالونو تعرفه

**یوسلو اووه څلوېښتمه ماده:**

(۱) د آزادو حوزو د ورځنۍ اړتیا وړ مالونه یا نور هغه مالونه چې د نوموړو حوزو د ساتنې او څارنې یا نورو موخو لپاره، له اړوندې کړنلارې سره ســـم، لګول کېږي، هغه مالونه ګڼل کېږي چې

های لازم را در مورد پیشبرد فعالیـــت های مندرج فقرهٔ (۱) این ماده وضـــع نمایند.

## ثبت منظورشده

**مادهٔ یکصد وچهل و ششم:**

اشخاصی که به ذخیرهٔ اموال یا ســـایر فعالیـــت هـــای منـــدرج فقـــرهٔ (۱) مادهٔ یکصد و چهل و پنجم این قانون در حوزه هـــا و گـــدام هـــا ی آزاد یـــا فروشـــگاه هـــای معـــاف از محصول مبادرت می ورزند، مکلـــف اند، حـــین تســـلیمی امـــوال آنـــرا ثبت و طبق هدایت مـــامور گمـــرک حفظ نمایند.

## تعرفه اموال مصرف شده و مفقود الاثر

**مادهٔ یکصد وچهل و هفتم:**

(۱) اموال مورد نیاز روزانه حوزه ها ی آزاد یا اموالیکه برای حفظ و مراقبت یا سایر اهداف حوزه های مذکور طبق طرزالعمل مربوط به مصرف میرســـد، اموالی شمرده می شود که بدوران آزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزاد دوران ته ترخيص شوي او د ګمرکي دين د ورکړې تابع دي.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې مالونه ورک شي او د هغو د ورکېدو په اړه توضيحات د ګمرک د مامور د قناعت وړ ونه ګرځي، نوموړي مالونه په آزادو حوزو او ګدامونو يا له محصول څخه په معاف پلورنځيو کې د مصرف شوو مالونو په توګه ګڼل کېږي او ددې مادې د (۱) فقرې حکم ور باندې تطبيقېږي.

## په آزادو حوزو کې د مالونو ويجاړېدل(تخريب) يا ترک کول

### يوسلو اته څلوېښتمه ماده:

ددې قانون په يوسلو نهه څلوېښتمه ماده کې درج په آزادو حوزو او ګدامونو يا له محصول څخه په معاف پلورنځيو کې واقع د غير افغاني مالونو د ترک يا تخريب موقف تر هغه وخته چې هلته پاتې کېږي، ټاکل کېداى شي.

ترخيص گرديده و تابع پرداخت دين گمركی می باشد.

(۲) درصورتی که اموال مفقود گردد و توضيحات در مورد مفقوديت آن مورد قناعت مامورگمرک قرار نگيرد، اموال متذكره بحيث اموال مصرف شده در حوزه ها وگدام های آزاد يا فروشگاه های معاف از محصول محسوب شده و حکم فقرهٔ (۱) اين ماده بالای آن تطبيق می گردد.

## تخريب يا ترک اموال در حوزه های آزاد

### مادهٔ يكصد وچهل وهشتم:

موقف ترک يا تخريب مندرج مادهٔ يكصد و چهل و نهم اين قانون برای اموال غير افغانی واقع در حوزه ها وگدام های آزاد يا فروشگاه های معاف از محصول تا زمانيكه در آنجا باقی ميماند، تعيين گرديده می تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوولسم فصل
## ګمرکي موقفونه

**د ګمرکي موقف غوښتنه**

**یوسلو نهه څلویښتمه ماده:**

(۱) اظهاروونکی یا د مالونو مسئول شخص مکلف دی، ګمرکي اظهارلیک، د اړوند موقف د غوښتنې لپاره وړاندې کړي. د ګمرکي موقف غوښتنه، له اړوندې کړنلارې سره سم، صورت مومي.

(۲) د مالونو د ګمرکي موقف غوښتنه په هغه صورت کې رد کېږي چې لګښت یې د دولت پر غاړه وي.

**د مالونو ویجاړېدل(تخریب)**

**یوسلو پنځوسمه ماده:**

(۱) د مالونو د تخریب ګمرکي موقف، چې د مالونو مشخصات، د تخریب د وخت، ځای، ډول او علت یادداښت پکې شامل وي، ګمرکي مامورینو ته له مخکنۍ خبرتیا وروسته، صورت مومي.

(۲) د ګمرک مامورین کولای شي، د

## فصل یازدهم
## موقف های گمرکی

**در خواست موقف گمرکی**

**مادهٔ یکصد وچهل ونهم:**

(۱) اظهارکننده یا شخص مسئول اموال مکلف است، اظهارنامهٔ گمرکی را جهت درخواست موقف گمرکی مربوط ارایه نماید. درخواست موقف گمرکی، مطابق طرزالعمل مربوط صورت می گیرد.

(۲) در خواست موقف گمرکی اموال در صورتی که مصرف آن بدوش دولت باشد، رد می گردد.

**تخریب اموال**

**مادهٔ یکصد وپنجاهم:**

(۱) موقف گمرکی تخریب اموال که شامل مشخصات اموال، ذکر زمان، محل، طرز و علت تخریب می باشد، بعد از اطلاعیهٔ قبلی به مامورین گمرک، صورت می گیرد.

(۲) مامورین گمرک می توانند، مرحلهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخریب پړاو وڅـاري او د اړونـدو ګمرکي سندونو وړاندې کول او ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شـوې خبرتیا نقل د مالونو له مسئول شخص څخه وغواړي.

(۳) هغه فاضله او قراضه مواد چـې د تخریب په پایله کې حاصلېږي، د غیر افغاني مالونو د موقف لرونکي دي او تر هغهٔ وخته پورې د ګمرک تر څارنې لاندې پاتې کېږي چـې موقـف یـې ترخیص یا نورو ګمرکي پړاوونـو تـه صورت ومومي.

## د مالونو له ترک څخـه حاصـله وجوه

### یوسلو یوپنځوسمه ماده:

د هغو مالونو د خرڅلاو وجوه یا لېږد چې د مالونو د ترک د موقف په پایله کې لاسته راځي، د ګمرکي دیونو لـه کړنلارې سره سم په اړوند حساب کې تحویلېږي. په هغهٔ صورت کې چـې د مالونو خرڅلاو یا لېږد اړوند لګښتونه بشـپړ نکـړي، د ګمرکونـو

تخریـب را نظـارت نمـوده و اسناد گمرکـی مربـوط و نقـل اطلاعیهٔ مندرج فقرهٔ (۱) ایـن مـاده را از شخص مسئول امـوال تقاضـا نمایند.

(۳) مواد فاضـله و قراضـه کـه در نتیجهٔ تخریب حاصـل مـی گـردد، دارای موقـف امـوال غیرافغـانی بوده و تا زمانی تحت نظارت گمرکی باقی میمانـد کـه تـرخیص آن بـه موقف یا سایر مراحل گمرکی صورت گیرد.

## وجـوه حاصـله از تـرک اموال

### مادهٔ یکصد و پنجاه ویکم:

وجوه فروش یا انتقال اموالی کـه در نتیجهٔ موقف تـرک امـوال بدسـت می آید، طبق طرز العمل تأدیه دیـون گمرکی به حساب مربوط تحویل بانک می گردد. در صورتی که فـروش یـا انتقال اموال مصارف مربوط را تکمیل ننماید، ریاست عمومی گمرکات مـی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی ریاست کولای شي، د حالاتو لــه په پام کې نیولو سره دولتي ادارو یــا مؤسسو ته د هغو د لېږد امر ورکړي.

## دوولسم فصل

## ګمرکي دین

**تضمین**

**یوسلو دوه پنځوسمه ماده:**

(۱) که چېرې د مالونو اظهاروونکی په ټاکلې موده کې د ګمرکي دیــن پــه ورکړې باندې قادر نه وي، د ګمرک مامورین کولای شي، واکمنو مقاماتو ته د تضمین توجیه کــوونکی مناســب پیشنهاد وړاندې کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي واکمن مقامات کــولای شــي، مدیون د نوموړي( د هغهٔ) د ګمرکــي دین د اداء کولــو لپــاره د مناســبو تضمیناتو په برابرولو مکلف کړي.

تواند با در نظر داشت حالات، امــر انتقال آن را به ادارات یا مؤسســات دولتی اعطاء نماید.

## فصل دوازدهم

## دین گمرکی

**تضمین**

**مادۀ یکصد وپنجاه ودوم :**

(۱) هرگـــاه اظهارکننـــدۀ امـــوال به پرداخت دین گمرکــی در میعــاد معینه قادر نباشد، مــامورین گمــرک می توانند، پیشنهاد مناسب توجیه کنندۀ تضمین را به مقامات ذیصلاح ارایــه نمایند.

(۲) مقامات ذیصلاح مندرج فقرۀ (۱) این ماده میتواننــد، مــدیون را بــه فراهم نمــودن تضــیمنات مناســب برای ادای دین گمرکی وی مکلــف نمایند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د متعددو عمليو لپاره واحد تضمين

**يوسلو دري پنځوسمه ماده:**

(۱) د گمرک مامورين کولای شي، د دوو ډولو مالونو او يا له دوو څخه د زياتو ډولونو د گمرکي دين د تأمينولو په منظور، واحد تضمين اخلي، پدې شرط چې د نومړو عمليو لپاره د هغو په هر حالت کې، کافي وگڼل شي.

(۲) شخص د لاندې شرايطو د تحقق په صورت کې کولای شي، له واحد تضمين څخه استفاده وکړي:

۱- په افغانستان کې استوگنه ولري.

۲- د گمرکي او مالياتي تقنيني سندونو په تطبيق کې ښه سابقه ولري.

۳- مالونه په ترتيب سره اظهار(څرگند) کړي.

## د تضمين د اندازې ټاکل

**يوسلو څلور پنځوسمه ماده:**

(۱) د گمرک مامورين د تضمين اندازه په لاندې توگه ټاکي:

۱- د گمرک د دين له دقيقې اندازې

## تضمين واحد برای عمليه های متعدد

**مادهٔ يکصد وپنجاه وسوم:**

(۱) مامورين گمرک می توانند، به منظور تأمين دين گمرکی دو نوع اموال و يا بيشتراز دو نوع، تضمين واحد را اخذ نمايند، مشروط بر اين که برای عمليه های متذکره در هرحالت آن کافی دانسته شود.

(۲) شخص در صورت تحقق شرايط ذيل می تواند، ازتضمين واحداستفاده نمايد:

۱-در افغانستان سکونت داشته باشد .

۲- سابقه خوب در تطبيق اسناد تقنينی گمرکی و مالياتی داشته باشد.

۳- اموال را به ترتيب اظهار نمايد.

## تعيين اندازهٔ تضمين

**مادهٔ يکصد وپنجاه وچهارم:**

(۱) مامورين گمرک اندازهٔ تضمين را طور ذيل تعيين می نمايند:

۱- مطابق اندازهٔ دقيق دين گمرکی که

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سم چې مبلغ يې د تضمين په وخت کې په يقيني توګه تثبيت شوی وي، خو دا چې په ګمرکي تقنيني سندونو کې بل ډول اټکل شوي وي.

۲- د ګمرکي دين د مبلغ له اعظمي حد سره سم چې د ګمرکي مامورينو په واسطه اټکل کېږي، پدې شرط چې د ګمرکي دين دقيقه اندازه ونه ټاکل کېدای شي.

(۳) که چېرې د ګمرکي دين د تحصيل لپاره ددې قانون په يوسلو دري پنځوسمه ماده کې درج شوی تضمين اړين وګڼل شي چې اندازه يې د وخت په تېرېدو سره بدلون ومومي، ددې تضمين اندازه پداسې ډول ټاکل کېږي چې ګمرکي دين په هر وخت کې تحصيل کېدای شي.

## ضامن

### يوسلو پنځه پنځوسمه ماده:

هغه شخص د ضامن په توګه منل کېږي چې د لاندې اوصافو لرونکی وي:

۱- په افغانستان کې استوګن وي. خو

مبلغ آن حين تضمين طور يقينی تثبيت گرديده باشد، مگر اينکه در اسناد تقنينی گمرکی طور ديگر پيش بينی شده باشد.

۲- مطابق حد اعظم مبلغ دين گمرکی که توسط مامورين گمرک تخمين می گردد، مشروط بر اينکه اندازۀ دقيق دين گمرکی تعيين شده نتواند.

(۲) هرگاه برای تحصيل دين گمرکی تضمين مندرج مادۀ يکصد و پنجاه وسوم اين قانون ضروری پنداشته شود و مقدار آن به مرور زمان تغيير يابد، اندازۀ اين تضمين طوری تعيين ميگردد که دين گمرکی در هر زمان تحصيل شده بتواند.

## ضامن

### مادۀ يکصد وپنجاه وپنجم:

شخصی بحيث ضامن پذيرفته می شود که دارای اوصاف ذيل باشد:

۱- در افغانستان مقيم باشد، مگر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې په بین المللي قراردادونو کــې چې افغانستان ورسره ملحق شوی، بل ډول اټکل شوي وي.

۲- داسې ضمانت وړاندې کړي چې د ګمرکي دین تضمین شــوی مبلــغ د ګمرک د مامورینو په منلــي وړ ډول ورکړای شي.

۳- داسې ضمانت وړاندې کړي چې د ګمرک د مامور له تصمیم سره سم تر ټاکلې مودې پورې وساتل شي.

## نور تضمینونه

**یوسلو شپږ پنځوسمه ماده:**

د ګمرک مامورین کولای شي، نــور تضمینونه ومني، پدې شــرط چــې د ګمرکي دین په ورکړې کــې معــادل تأمینات وړاندې کړای شي.

## اضافي تضمینونه

**یوسلو اووه پنځوسمه ماده:**

که چېرې په ګمرکي کړنلاره کې درج په ټاکلې موده کې د ګمرکي دیــن د ورکړې د تأمینولو لپاره وړاندې شوی تضمین، د ډاډ وړ یا کافي ونه ګڼل شي،

اینکه در قراردادهای بین المللی کــه افغانستان به آن ملحق شده طور دیگری پیش بینی گردیده باشد.

۲- ضمانتی را ارایه نماید که مبلــغ تضمین شدهٔ دین گمرکی به شکل قابل پذیرش مامورین گمرک تأدیه نمــوده بتواند.

۳- ضمانتی را ارایه نماید که مطــابق تصمیم مامور گمرک الی مدت معــین نگهداری شده بتواند.

## سایر تضمینات

**مادهٔ یکصد وپنجاه وششم:**

مامورین گمرک می تواننــد، ســایر تضمینات را بپذیرند، مشروط بر اینکه تأمینات معادل را در تأدیه دین گمرکی ارایه نموده بتواند.

## تضمینات اضافی

**مادهٔ یکصد وپنجاه وهفتم:**

هرگاه تضمین ارایه شده جهت تــأمین پرداخت دین گمرکی در میعاد معــین مندرج طرزالعمل گمرکی قابل اطمینان یا کافی پنداشته نشود، مامورین گمرک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د گمرک مامورين کولای شي مديون د اضافي تضمين يا په خپله خوښه د مخکني تضمين د تعويض په وړانـدې کولو مکلف کړي.

## د تضمين رفع کول

**يوسلو اته پنځوسمه ماده:**

(۱) که چېرې گمرکي دين قسماً اداء شي، د مديون د غوښتنې پربنسـټ، د نغدي تضمين يوهٔ برخه گمرکي مديون ته بېرته ورکول کېږي، پدې شرط چې د تضمين پاتې مقدار د دين د اداء کولو لپاره کافي وي.

(۲) که چېرې گمرکي دين چې په هکله يې تضمين وړاندې شـوی، اداء شي، غير نغدي تضمين بې له ځنډه رفع او نغدي وجه بېرته ورکول کېږي.

## د مالونو پـر مجـاز وارداتـو او صادراتو گمرکي دين

**يوسلو نهه پنځوسمه ماده:**

(۱) گمرکي دين، په هغهٔ صورت کې چې ددې قانون له حکمونو سره سم د مالونو مجاز واردات يا صادرات، آزاد

ميتواننـد، مـديون را مکلـف بـه ارايه تضـمين اضـافی يـا تعـويض تضمين قبلی بـه انتخـاب خـودش نمايند.

## رفع تضمين

**مادهٔ يکصد و پنجاه وهشتم:**

(۱) هرگاه ديـن گمرکـی قسـماً اداءگردد، به اساس درخواست مديون، قسمتی از تضمين نقدی بـه مـديون گمرکی باز پرداخـت مـی گـردد، مشروط براينکه مقدار بـاقی مانـدهٔ تضمين برای ادای دين کافی باشد.

(۲) هرگاه دين گمرکی که در مـورد آن تضمين ارايه شـده، اداء گـردد، تضمين غير نقدی بلافاصله رفع و وجه نقدی باز پرداخت می گردد.

## ديـن گمرکـی بـر واردات و صادرات مجاز اموال

**مادهٔ يکصد وپنجاه ونهم:**

(۱) دين گمرکی، در صـورتی کـه واردات يا صادرات مجاز اموال مطابق احکام اين قانون به دوران آزاد ترخيص

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوران ته ترخیص او منل شوی ګمرکي اظهارليک وړاندې شوی وي، په لاندې حالاتو کې لازمېږي:

۱- ددې قانون د دوه اتيايمې مادې د (۲) فقرې له حکم سره سم، آزاد دوران ته د وارداتي محصول د تابع مالونو ترخيص .

۲- له وارداتي محصول څخه په قسمي معافيت سره، د مؤقت توريد تر پړاو لاندې د مالونو راوستل.

۳- د ګمرکونو تر څارنې لاندې مالونو، په شرط پورې د تړلو مالونو راوستل.

۴- د صادرېدو تر پړاو لاندې د مالونو راوستل.

۵- تر نورو ګمرکي پړاوونو يا موقفونو لاندې د مالونو راوستل چې محصول، حق الزحمه، عوارض، جريمې يا نور پولي التزامات يې په برکې نيولي وي.

(۲) د اجناسو د قانوني توريد او صادرېدو او هغو مالونو چې تر ګمرکي پړاو يا موقف لاندې دي په برخه کې د

و اظهارنامهٔ گمرکی قبول شده، ارایه گردیده باشد، در حالات ذیل لازم می گردد:

۱- ترخیص اموال تابع محصول وارداتی به دوران آزاد، مطابق حکم فقرهٔ (۲) مادهٔ هشتاد و دوم این قانون.

۲- قراردادن اموال تحت مرحله توريد مؤقت با معافیت قسمی از محصول وارداتی.

۳- قراردادن اموال منوط به شرط اموال تحت نظارت گمرکات.

۴- قراردادن اموال تحت مرحله صدور.

۵- قراردادن اموال تحت مرحله یا موقف های دیگر گمرکی که تأدیه محصول، حق الزحمه، عوارض، جریمه ها یا سایر التزامات پولی را در بر داشته باشد.

(۲) عوارض گمرکی قابل پرداخت در زمینهٔ توريد و صدور قانونی اجناس و اموالیکه تحت مرحله یا موقف گمرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکــــړې ور ګمرکــــي عــــوارض، د اظهارلیک له منلو وروسته، ورکــول کېږي. ګمرکي محصولات لدې امــر څخه مستثني دي.

(۳) ګمرکي دین، د اظهارلیک د منلو په صورت کې یا د جریمو د وضع کولو له امله، ددې قانون له حکمونو ســره سم، ګمرکي مدیون ته له خبر ورکولو وروسته واجب الاداء ګرځي.

(۴) که چېرې اظهاروونکی، د ګمرکي دین د ورکړې لپاره، ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو حالاتو څخه په یوهٔ کې، ناسم اظهارلیــک ترتیــب او وړاندې کړي چې د هغې له مخــې د ګمرکي دین ورنکړای شــي، پــدې صورت کې اظهاروونکی د نه ورکړل شوي ګمرکي دین په ورکړې مکلــف دی.

قــــرار دارنــــد، بعــــد از پــــذیرش اظهارنامــــه، پرداختــــه مــــی شــــود. محصولات گمرکی از این امر مستثنی است.

(۳) دین گمرکی در صورت پــذیرش اظهار نامه یا بالاثر وضع جریمه هــا، مطابق احکام این قانون بعد از اطلاع به مــدیون گمرکــی واجــب الاداء می گردد.

(۴) هرگاه اظهــار کننــده، جهــت تأدیــه دیــن گمرکــی در یکــی از حــالات منــدرج فقــرهٔ (۱) ایــن مــاده اظهــار نامــهٔ نادرســت را ترتیب وارایه نمایــد کــه بــالاثرآن دین گمرکی تأدیــه شــده نتوانــد، در این صورت اظهار کننده مکلف به تأدیه دیــن گمرکــی تأدیــه نشــده می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له ځارنې ځخه د مـالونو د غيـر مجاز ايستلو(بهركولو) په وخـت کې ګمرکي دين**

**يوسلو شپېتمه ماده:**

**له ګمرکي ځارنې ځخه د محصول تابع غير مجاز مالونو د ايستلو په حالت کې ګمرکي دين واجب الاداء دی او لاندې اشخاص د هغهٔ په ورکړې مکلف دي:**

**۱- هغه شخص چې مالونه يـې لــه ګمرکي ځارنې ځخه له اجازې پرتــه ايستلي وي.**

**۲- هغه شخص چې د ايستلو په پروسه کې برخوال وي او له هغې ځخه دمخه خبروي.**

**۳- هغه شخص چې له ګمرکي ځارنې ځخه د محصول تابع مالونه يې ترلاسه يا تصرف کړي او د ترلاسه کولـو او تصرف پر وخت، له ګمرکي ځـارنې ځخه د هغو د غير مجاز ايستلو په هکله خبر وي.**

**ديـــن گمرکـــی حـــين خـــروج غيـــــر مجـــــاز امـــــوال از نظارت**

**مادهٔ يکصد وشصتم:**

**دين گمرکی درحالت خروج غير مجاز اموال تابع محصول ازنظارت گمرکی واجب الادأبوده و اشخاص ذيل مکلف به تأديه آن می باشند:**

**۱-شخصی که اموال را از نظــارت گمرکـــی بـــدون اجـــازه خـــارج نموده باشد.**

**۲- شخصی که در عمليهٔ خروج سهيم بوده و از آن آگــاهی قبلـــی داشـــته باشد.**

**۳- شخصــــی کــــه امـــوال تـــابع محصول از نظارت گمرکی را حصول يا تصرف نمـــوده و حـــين حصـــول يا تصرف در مورد خروج غير مجـــاز آن از نظـــارت گمرکـــی آگـــاه باشد.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دین نه الزامیت

**یوسلو یو شپېتمه ماده:**

تر ګمرکي څارنې لاندې مالونو باندې ګمرکي دین، په لاندې حالاتو کې نه لازمېږي:

۱- هغه مالونه چې د غیر مترقبه پېښو د پېښېدو په علت له منځه تللي وي.

۲- هغه مالونه چې ددې قانون د یوسلو نهه څلوېښتمې مادې له حکم سره سم، د ویجاړېدو (تخریب) یا ترک تر موقف لاندې راشي.

۳- هغه مالونه چې د تبخیر یا نورو عواملو په علت ضایع شوي وي.

۴- ددې قانون په یوسلو شپېتمه ماده کې درج مالونه چې د شخص له کنترول څخه وتلي وي او هغه ثابت کړي.

## د تضامني شرکتونو ضمانت

**یوسلو دوه شپېتمه ماده:**

که چېرې تضامني شرکت د ګمرکي دین ضمانت کړی وي، د هغه ونډه وال (سهم لرونکي) د ګمرکي دین د اداء

## عدم الزامیت دین

**مادۀ یکصد وشصت ویکم:**

دین گمرکی بالای اموال تحت نظارت گمرکی، در حالات ذیل لازم نمی گردد:

۱- اموالیکه به علت وقوع حوادث غیر مترقبه از بین رفته باشد.

۲- اموالیکه مطابق حکم مادۀ یکصد وچهل ونهم این قانون، تحت موقف تخریب یا ترک قرار گیرد.

۳- اموالیکه به علت تبخیر یا سایر عوامل ضایع گردیده.

۴- اموال مندرج مادۀ یکصد و شصتم این قانون که از کنترول شخص خارج شده باشد و آنرا ثابت نماید.

## ضمانت شرکت های تضامنی

**مادۀ یکصد وشصت ودوم:**

هرگاه شرکت تضامنی تأدیه دین گمرکی را ضمانت نموده باشد، سهمداران آن در برابر ادای دین

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو په وړاندې په انفرادي او ټولیزه (جمعي) توګه مسئولیت لري. له ګمرکي دین څخه رامنځته شوې جریمې لدې حکم څخه مستثني دي.

## د ګمرکي دین ټاکل

**یوسلو دري شپېتمه ماده:**

که چېرې د ګمرکي دین د اداء د وجوب وخت، د مالونو د اظهاروونکي د تقصیر په علت، په دقیقه توګه ونه ټاکلی شي، پدې صورت کې اکثر حد محصول چې په ټاکلې موده کې، د ورکړې وړ وي، د مالونو په هکله تطبیقیږي.

## د دین ثبت

**یوسلو څلور شپېتمه ماده:**

(۱) د مالونو ګمرکي محصول، د هغهٔ د ورکړې په اړه د اظهارلیک له منلو سره په یوهٔ وخت، محاسبه کیږي.

که چېرې د مالونو د بیې د ټاکلو لپاره زیات معلومات لازم وي، د ګمرک مامورین مکلف دي، د ګمرکي اظهارلیک له منلو وروسته د (۴۸)

گمرکی طور انفرادی و جمعی مسئولیت دارند. جریمه های ناشی از دین گمرکی، از این حکم مستثنی می باشد.

## تعیین دین گمرکی

**مادهٔ یکصد وشصت وسوم:**

هرگاه زمان وجوب ادای دین گمرکی به علت تقصیر اظهارکنندهٔ اموال، طور دقیق تعیین شده نتواند، در این صورت حد اکثر محصول که در میعاد معین، قابل تأدیه باشد، درمورد اموال تطبیق می گردد.

## ثبت دین

**مادهٔ یکصد وشصت و چهارم:**

(۱) محصول گمرکی اموال همزمان با پذیرش اظهارنامه مبنی بر تأدیه آن، محاسبه می گردد.

هرگاه برای تعیین قیمت اموال معلومات بیشتر لازم باشد، مامورین گمرک مکلف اند، در خلال (۴۸) ساعت بعد از پذیرش اظهارنامهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساعتونو په ترڅ کې یا د ګمرکي مالونو په بيې پورې په اړونده کړنلاره کې په درج شوې موده کې، د دين انــدازه و ټاکي د ګمرکي محصول اندازه له ځنډ پرته له محاسبې وروسته ثبتېږي.

(۲) ګمرکي محصول ددې قــانون د اووه اويايمې مادې له حکم سره ســم آزاد دوران ته د مالونو له ترخيص يا د محصول د ورکړې له نورو نغــاړونکو پړاوونو څخه له ترخيص دمخه، محاسبه او ثبتېږي، خو دا چې پدې قانون يــا اړونده کړنلاره کې، بل ډول تصــريح شوي وي.

(۳) ګمرکي محصول لــه ګمرکــي پړاوونو څخه تر يوهٔ لاندې لــه نيــول کېدو وروسته، له هغې نېټې څخه چې د ګمرک مامورينو د دين د اندازې او د مديون د تشخيص لپاره کافي معلومات ترلاسه کړي دي، د (۴۸) ساعتونو په ترڅ کې ثبتېږي.

(۴) د ګمرک مامورين مکلف دي، د ګمرکي دين د ثبت د ځنډ دلايل، پــه واضحه توګه وړاندې کړي.

گمرکی یا میعاد منــدرج طرزالعمــل مربوط به تعیین قیمت گمرکی اموال، اندازهٔ دین را تعیین نماینــد. انــدازهٔ محصول گمرکی بلافاصــله بعــد از محاسبه ثبت می گردد.

(۲) محصول گمرکی مطــابق حکــم مادهٔ هفتاد وهفتم این قــانون قبــل از ترخیص اموال به دوران آزاد یا ترخیص از سایر مراحل در برگیرنــدهٔ تأدیــه محصــــول، محاســـبه و ثبــــت می گردد، مگر اینکه در این قانون یا طرز العمل مربوط طور دیگری تصریح شده باشد.

(۳) محصول گمرکی بعــد از قــرار گرفتن اموال تحت یکــی از مراحــل گمرکی، در خلال (۴۸ )ســاعت از تاریخی که مامورین گمرک معلومات کافی را برای تعیین انــدازهٔ دیــن و تشخیص مدیون در یافت نموده انــد، ثبت می گردد.

(۴) مامورین گمرک مکلف اند، دلایل تأخیر ثبت دین گمرکی را طور واضح ارایه نمایند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حسابونو په ثبت کې تفاوت

**یوسلو پنځه شپېتمه ماده:**

(۱) که چېرې ګمرکي دین، واجب الاداء دین ته په پام کم (لږ) محاسبه او ثبت شوی وي، د ګمرک مامورین مکلف دي، د خبرېدو له نېټې څخه د (۴۸) ساعتونو په ترڅ کې، ټول دین تحصیل او ددې قانون د یوسلو څلورشپېتمې مادې له حکم سره سم هغه محاسبه او ثبت کړي.

(۲) که چېرې د ګمرکي تعرفې د نرخ فیصدي بدلون ومومي، دغه بدلون د هغو مالونو په هکله د تطبیق وړ دی چې د هغو محصول بانک ته تحویل شوی نه وي.

هغه مالونه چې د ګمرکي محصول په معادل تضمین له ګمرک څخه وتلي وي (اېستل شوي وي) د ګمرکي تعرفې د نرخ فیصدۍ د بدلون تابع ندي.

## د دین د ثبت خبرتیا

**یوسلو شپږشپېتمه ماده:**

(۱) د ګمرک مامورین مکلف دي، په

## تفاوت در ثبت حسابات

**مادهٔ یکصد وشصت وپنجم:**

(۱) هرگاه دین گمرکی نظر به دین واجب الادا کمترمحاسبه و ثبت گردیده باشد، مامورین گمرک مکلف اند، در خلال (۴۸) ساعت از تاریخ آگاهی، تمام دین را تحصیل و مطابق حکم مادهٔ یکصد و شصت وچهارم این قانون آنرا محاسبه و ثبت نمایند.

(۲) هرگاه فیصدی نرخ تعرفهٔ گمرکی تغییر یابد، این تغییر در مورد اموالی قابل تطبیق است که محصول آن تحویل بانک نشده باشد.

اموالیکه به تضمین معادل محصول گمرکی از گمرک خارج شده باشد، تابع تغییر فیصدی نرخ تعرفه گمرکی نمی باشد.

## اطلاعیهٔ ثبت دین

**مادهٔ یکصد وشصت وششم:**

(۱) مامورین گمرک مکلف اند،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسابونو کې د محصول له ثبت سره په یوهٔ وخت، مدیون ته له اړونـدې کړنلارې سره سم، خبر ورکړي، مدیون خبرتیا یوازې په هغو حالاتو کې صورت مومي چې په اظهارلیک کې ټاکل شوې اندازه، د ګمرک د ادارې د مامورینو په واسطه له تثبیت شوې اندازې سره تفاوت ولري.

(۲) له هغې نېټې څخه چې دین لازم شوی دی د دریو کلونو له تېرېدو وروسته د ګمرکي دین بیا ټاکل، د اعتبار وړ ندي.

## د ګمرکي دین تصفیه او اسقاط

**یوسلو اووه شپېتمه ماده:**

ګمرکي دین له لاندې حالاتو څخه په یوهٔ کې تصفیه یا ساقطېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې ددې قانون په یوسلو اته شپېتمې تر یوسلو یو اویایمې مادو کې له درج شوو حکمونو سره سم، د هغهٔ بشپړې ورکړې صورت موندلی وي.

۲- په هغه صورت کې چې ددې قانون

همزمان با ثبت محصول در حسابات، مدیون را مطابق طرز العمل مربوط اطلاع دهند. اطلاعیه به مدیون صرف در حالاتی صورت می گیرد که اندازهٔ تعیین شده در اظهارنامه با اندازهٔ تثبیت شده توسط مامورین ادارهٔ گمرک تفاوت داشته باشد.

(۲) تعیین مجدد دین گمرکی بعد از مرور سه سال از تاریخی که دین لازم گردیده است، مدار اعتبار نمی باشد.

## تصفیه و اسقاط دین گمرکی

**مادهٔ یکصد وشصت وهفتم:**

دین گمرکی دریکی از حالات ذیل تصفیه یا ساقط می گردد:

۱-درصورتیکه مطابق احکام مندرج مواد یکصد وشصت وهشتم الی یکصد وهفتاد ویکم این قانون پرداخت کامل آن صورت گرفته باشد.

۲-درصورتی که مطابق احکام مندرج

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوسلو دوه اویایمې تر یوسلو پنځه اویایمې مادو کې د درج شوو حکمونو مطابق د هغه بېرته ورکړې (بازپرداخت) صورت موندلی وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې ددې قانون په دوه اویایمه یا اتیایمه ماده کې له درج شوو حکمونو سره سم، د محصول د ورکړې په اړه ګمرکي اظهارلیک باطل یا لغو شوی وي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې مالونه مصادره یا تخریب شوي وي.

۵- ددې قانون د یوسلو شپېتمې مادې په (۱، ۲ او ۳) اجزاوو کې په درج شوو حالاتو کې.

## د ګمرکي دین د ورکړې وخت

### یوسلو اته شپېتمه ماده:

(۱) مدیون مکلف دی، د خبرتیا له ترلاسه کولو وروسته، ګمرکي دین چې ددې قانون د یوسلو شپږ شپېتمې مادې له حکم سره سم، د هغهٔ خبرتیا ته رسول شوی دی، په خبرتیا کې په درج شوې موده کې ورکړي.

مواد یکصد و هفتاد و دوم الی یکصد وهفتادوپنجم این قانون باز پرداخت آن صورت گرفته باشد.

۳-درصورتی که مطابق احکام مندرج مواد هفتاد و دوم یا هشتادم این قانون اظهارنامهٔ گمرکی مبنی بر پرداخت محصول باطل یا لغو گردیده باشد.

۴-در صورتی که اموال مصادره یا تخریب گردیده باشد.

۵- در حالات مندرج اجزای (۱، ۲ و ۳) مادهٔ یکصد و شصتم این قانون.

## میعاد پرداخت دین گمرکی

### مادهٔ یکصد وشصت وهشتم:

(۱) مدیون مکلف است، بعد از دریافت اطلاعیه، دین گمرکی را که مطابق حکم مادهٔ یکصد و شصت وششم این قانون به اطلاع وی رسانیده شده است، در میعاد مندرج اطلاعیه تأدیه نماید.

ددې قانون په یوسلو نهه شپېتمه مـاده کې درج شوی حکم لدې امر څخـه مستثني دی.

(۲) که چېرې خبرتیا په ټاکلي وخـت ګمرکي مدیون تـه ونـه رسـېږي، د ورکړې موده تمدیـد شـوې ګڼـل کېږي.

(۳) د ګمرک مامورین کولای شي، د مدیون د غوښتنې پربنسټ، ټاکله شوې موده، ددې قانون په یوسلو پنځه شپېتمه ماده کې د درج شوي حالت له په پام کې نیولو سره تر لسو ورځـو پـورې تمدید کړي.

## د دین په ورکړه کې ځنډ

### یوسلو نهه شپېتمه ماده:

(۱) د مالیې وزارت کولای شـي، د ګمرکي دین په کلي یا قسمي ورکـړه کې ځنډ، له اړوندې کړنلارې سره سم، منظور کړي، پدې شرط چې ګمرکـي مدیون پدې برخه کې تضمین وړاندې او د ځنډ موده د اضـافي مبلـغ لـه ورکړې پرته له (۳۰) ورځو څخه زیاته

حکم مادۀ یکصـد وشصـت ونهـم این قـانون از ایـن امـر مسـتثنی است.

(۲) هرگاه اطلاعیه در میعاد معینه بـه مدیون گمرکی مواصلت ننماید، میعاد پرداخـت تمدیـد شـده محسـوب می گردد.

(۳) مامورین گمرک می توانند، بـه اساس تقاضای مدیون، میعـاد تعیـین شده را با نظر داشت حالت منـدرج مـادۀ یکصـد و شصـت وپـنجم ایـن قـانون الـی ده روز تمدیـد نمایند.

## تأخیر در تأدیه دین

### مادۀ یکصد وشصت ونهم:

(۱) وزارت مالیـه میتوانـد، تأخیر در تأدیـه کلـی یـا قسـمی دیـن گمرکـی راطبـق طرزالعمـل مربـوط منظـور نمایـد، مشـروط بـر اینکـه مـدیون گمرکـی در زمینـه تضـمین را ارایـه و میعـاد تأخیر بدون تأدیه مبلغ اضافی از (۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي، په هغهٔ صورت کې چې متعدد ګمرکي دیون تر ټاکلې مودې پورې د ورکړې وړ وګرځي، د هغو ځنډول په اوسط ډول له (۳۰) ورځـو څخـه زیاتېدای نشي.

(۲) که چېرې ګمرکي دین، ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکـم سره سم، په ټاکلي وخت ورنکړل شي، مدیون د هرې ورځې ځنډ پر وراندې د (۰ ، ۰۱) فیصد اضافي مبلـغ پـر ورکړې مکلف دی.

## د دین د ورکړې ډول

یوسلو اویایمه ماده:

(۱) د دیـــن ورکـــړه د بـــانکي انتقالاتو یا په ګمرکي تقنیني سـندونو کې د بل سند پـه وسـیله صـورت موندلای شي.

(۲) نور اشخاص کـولای شـي، د مدیون په عوض، ګمرکـي دیـن اداء کړي.

(۳) که چېرې تأدیه ورکوونکی، ددې قانون په اته پنځوسمه ماده کـې درج

روز بیشتر نباشـد. درصورتی که دیون گمرکی متعدد طی میعاد معین قابـل پرداخت گـردد، تـأخیر آن بطـور اوسط از ( ۳۰ ) روز بیشـتر بـوده نمی تواند.

(۲) هرگـاه دیـن گمرکـی طبـق حکم مندرج فقرهٔ (۱) این مـاده در مدت معین تأدیه نگردد، مدیون مکلف به پرداخت (۰,۰۱) فیصد مبلغ اضافی در برابـر هـر روز تـأخیر می باشد.

## طرز تأدیه دین

مادهٔ یکصد وهفتادم:

(۱) پرداخت دین از طریق انتقـالات بانکی یا به وسیله سند دیگر منـدرج اسناد تقنینی گمرکی صورت گرفتـه می تواند.

(۲) سایر اشخاص می توانند، به عوض مـدیون، دیـن گمرکـی را اداء نمایند.

(۳) هرگاه تأدیه کننده، شخص مندرج مادهٔ پنجاه وهشتم این قانون باشد، به

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی شخص وي، د گمرک د اداري په تشخيص د دين ورکړه په نغدي ډول صورت مومي.

**په ټاکلي وخت د دين نه ورکړه**

**يوسلو يو اويايمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې گمرکي مديون خپل دين په ټاکلي وخت اداء نکړي، د گمرک اداره کولای شي، د هغهٔ منقول او غير منقول ثبت شوی ملکيت تر خپل تضمين لاندې راولي او له موضوع څخه د ملکيت د ثبت دفترونو يا بانکونو ته خبر ورکړي. نوموړی ملکيت د دين تر ورکړې پورې تر تضمين لاندې نيول کېږي.

(۲) د گمرک اداره د گمرکي دين په تحصيل کې، د قانون له حکمونو سره سم، نسبت نورو داينينو ته د لومړيتوب حق لري.

**له دين څخه زياته ببرته ورکړه (بازپرداخت)**

**يوسلو دوه اويايمه ماده:**

(۱) که چېرې گمرکي دين، د مديون د

تشخيص ادارهٔ گمرک تأديه دين طور نقدی صورت می گيرد.

**عدم تأديه دين در ميعاد معينه**

**مادهٔ يکصد وهفتاد ويکم:**

(۱) درصورتی که مديون گمرکی دين خود را در ميعاد معينه اداء ننمايد، ادارهٔ گمرک می تواند، ملکيت منقول و غير منقول ثبت شدهٔ وی را تحت تضمين خويش قرار داده و از موضوع به دفاتر ثبت ملکيت يا بانک ها خبر دهد. ملکيت مذکور الی تأديه دين تحت تضمين قرار می گيرد.

(۲) ادارهٔ گمرک در تحصيل دين گمرکی مطابق احکام قانون نسبت به ساير داينين، حق اولويت را دارد.

**باز پرداخت بيشتر از دين**

**مادهٔ يکصد وهفتاد ودوم:**

(۱) هرگاه دين گمرکی بيشتر از دين

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذمت له دین څخه زیات ورکړل شوی وي، تفاوت یې هغه ته، بېرته ورکـول کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې بېرته ورکړه د اظهارلیک په ابطال یا د اصلاح شوي اظهارلیک په وړاندې کولو سره، ددې قانون له دوه اویایمې مادې سره سم د مالونو د دین په هکله د خبرتیا له نېټې وروسته، د درېو کلونو په موده کې صورت موندلای شي.

(۳) د ګمرک اداره مکلفـه ده، ددې مادې په (۱ او ۲ ) فقرو کې پـه درج شوو حالاتو کې ګمرکي دیـن بېرتـه ورکړي.

(۴) په هغهٔ صورت کې چې د ګمرکي دین تفاوت، آزاد دوران ته د مالونو له ترخیص وروسته، له ترخیص څخه پس د تصفیې په بهیر کې تر درېو کلونـو پورې تثبیت شي، مدیون د هغـهٔ پـر ورکړې مکلف دی.

ذمت مـدیون تأدیـه شـده باشـد، تفـاوت آن بـه وی بازپرداخـت، می گردد.

(۲) باز پرداخت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده با ابطال اظهارنامـه یـا ارایـه اظهارنامـهٔ تصـحیح شـده مطـابق مادهٔ هفتـاد و دوم ایـن قـانون در مدت سه سال بعد از تاریخ اطلاعیه در مورد دین امـوال صـورت گرفتـه می تواند.

(۳) ادارهٔ گمرک مکلف اسـت، در حالات مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده دیـن گمرکـی را بازپرداخـت نماید.

(۴) درصورتی که تفاوت دین گمرکی بعد از ترخیص اموال به دوران آزاد، الی سه سال در جریان تصفیه بعـد از تـرخیص تثبیـت گـردد، مـدیون مکلـف بـه پرداخـت آن می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ناقصو مالونو بېرته ورکړه

**یوسلو دري اویایمه ماده:**

(۱) هغو مالونو چې له ترخیص دمخه یې زیان لیدلی وي یا د تورید له قرارداد سره مطابقت نلري او اظهاروونکي هغه مسترد کړي وي، یا د مشروطو مجازو مالونو له جملې څخه وي او له اداري اړوندو ادارو څخه د یوې په واسطه د هغو تورید رد شوی وي، د هغو وارداتي محصول بېرته ورکړه، تر دغو شرایطو لاندې صورت مومي:

۱- مالونه تر استفادې لاندې نیول شوي نه وي. د مالونو دناقص والي د اثبات لپاره لومړنۍ (ابتدایي) استفاده لدې امر څخه مستثني ده.

۲- مالونه صادر یا تر داسې پړاو یا موقف لاندې راشي چې د ګمرکي محصول دورکړې مستلزم نه وي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه، د غیر افغاني مالونو په توګه د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه صادرېدای شي.

## بازپرداخت اموال ناقص

**مادۀ یکصد وهفتاد و سوم:**

(۱) اموالی که قبل از ترخیص آسیب دیده یا با قرار داد تورید مطابقت نداشته و اظهارکننده آنرا مسترد نموده یا از جمله اموال مجاز مشروط باشد و توسط یکی از ادارات ذیربط دولتی تورید آن رد گردیده باشد، بازپرداخت محصول وارداتی آن تحت شرایط ذیل صورت می گیرد:

۱- اموال مورد استفاده قرار نگرفته باشد. استفادۀ ابتدائی برای اثبات ناقص بودن اموال از این امر مستثنی است.

۲- اموال صادر یا تحت مرحله یا موقفی قرار گیرد که مستلزم تأدیه محصول گمرکی نباشد.

(۲) اموال مندرج فقرۀ (۱) این ماده بحیث اموال غیر افغانی از قلمرو گمرکی کشور صادر گردیده می تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالاتو کې د وارداتي محصول بېرته ورکړه، د مديون د غوښتنليک پربنسټ، د ابلاغ له نېټې څخه د دوولس مياشتو په ترڅ کې صورت مومي.

(۴) د محصول بېرته ورکړه، ددې قانون د يوسلو شلمې مادې له حکم سره سم صورت موندلای شي.

**د بېرته ورکړې وړ مبلغ حدود**

**يوسلو څلور اويايمه ماده:**

ګمرکي محصول په هغهٔ صورت کې بېرته ورکول کېږي چې اندازه يې له يو زر افغانيو څخه زياته وي، ددې قانون په اته پنځوسمه ماده کې درج تحصيل شوی محصول، لدې امر څخه مستثني دی.

**په بېرته ورکړه کې تېروتنه**

**يوسلو پنځه اويايمه ماده:**

که چېرې ګمرکي دين اشتباهاً ورکړل شوی وي، ګمرکي مديون مکلف دی، له ابلاغ وروسته، هغه مسترد کړي.

(۳) باز پرداخت محصول وارداتی در حالات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به اساس درخواست مديون درخلال دوازده ماه از تاريخ ابلاغ صورت می گيرد.

(۴) باز پرداخت محصول مطابق حکم مادهٔ يکصد وبيستم اين قانون صورت گرفته می تواند.

**حدود مبلغ قابل بازپرداخت**

**مادهٔ يکصد وهفتاد و چهارم:**

محصول گمرکی در صورتی بازپرداخت ميگردد که اندازهٔ آن بيشتر از يکهزار افغانی باشد، محصول تحصيل شدهٔ مندرج مادهٔ پنجاه و هشتم اين قانون از اين امر مستثنی است.

**اشتباه در بازپرداخت**

**مادهٔ يکصد وهفتاد وپنجم:**

هرگاه دين گمرکی اشتباهاً بازپرداخت گرديده باشد، مديون گمرکی مکلف است، بعد از ابلاغ آنرا مسترد نمايد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیارلسم فصل
## ګمرکي سرغړونې(تخلفات)

**د محافظت او خاصو تنفیذي عملیاتو قطعه**

**یوسلو شپږ اویایمه ماده:**

(۱) ددې قانون په حکمونو کې له درج شوو سرغړونو څخه د مخنیوي، د هېواد په قلمرو کې د هغو د مرتکبینو د پېژندلو او نیولو او د ګمرکي ساحو د امنیت د تأمین په منظور، د مالیې وزارت په چوکاټ کې، د محافظت او خاصو تنفیذي عملیاتو قطعه جوړېږي.

(۲) د محافظت او خاصو تنفیذي عملیاتو د قطعې د افسرانو او ساتنمنانو تقرر، استخدام، تبدیلي، ترفیع، مکافات، تأدیب، انفصال، استعفي، تقاعد او نورې اړوندې چارې، د قانون له حکمونو سره سم، صورت مومي.

(۳) د کورنیو چارو د وزارت پولیس مکلف دي د ګمرکونو د لوی ریاست د لیکلې یا شفاهي غوښتنې پربناء، د محافظت او خاصو تنفیذي عملیاتو د

## فصل سیزدهم
## تخلفات گمرکی

**قطعۀ محافظت و عملیات خاص تنفیذی**

**مادۀ یکصد وهفتاد وششم:**

(۱) به منظور جلوگیری از تخلفات مندرج احکام این قانون، شناسائی و دستگیری مرتکبین آن در قلمرو گمرکی کشور، محافظت و تأمین امنیت ساحات گمرکی، قطعۀ محافظت و عملیات خاص تنفیذی در چوکات وزارت مالیه ایجاد می گردد.

(۲) تقرر، استخدام، تبدیلی، ترفیع، رخصتی، مکافات، تأدیب، انفصال، استعفاء، تقاعد و سایر امور به افسران و ساتنمنان قطعۀ محافظت و عملیات خاص تنفیذی طبق احکام قانون صورت می گیرد.

(۳) پولیس وزارت امور داخله مکلف است، بنا بر درخواست کتبی یا شفاهی ریاست عمومی گمرکات با کارکنان قطعۀ محافظت و عملیات خاص تنفیذی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطعې له کارکوونکو سره د دندو په بهیر کې همکاري وکړي.

(۴) د محافظت او خاصو تنفیذي عملیاتو د قطعې د فعالیت ډول او په هغې پورې نورې اړوندې چارې په جلا مقرره کې تنظیمېږي.

گمرکي سرغړونې

يوسلو اووه اویایمه ماده:

پدې قانون او نورو گمرکي تقنیني سندونو کې له درج شوو حکمونو څخه سرغړونې، دوه ډوله دي:

۱- گمرکي اداري سرغړونې: ددې قانون د يوسلو دري اتیایمې مادې حکم لدې امر څخه مستثني دی.

۲- د مالونو قاچاق: پدې فصل کې له درج شوو حکمونو سره سم.

گمرکي اداري سرغړونې

يوسلو اته اویایمه ماده:

(۱) گمرکي اداري سرغړونې په لاندې دريو کټګوريو وېشل کېږي:

۱- د لومړۍ کټګورۍ سرغړونې.

۲- د دوه یمې کټګورۍ سرغړونې.

در جریان وظایف همکاری نماید .

(۴) طرز فعالیت قطعهٔ محافظت و عملیات خاص تنفیذی و سایر امور مربوط به آن در مقررهٔ جداگانه تنظیم می گردد.

تخلفات گمرکی

مادهٔیکصد وهفتاد وهفتم:

تخلفات از احکام مندرج این قانون و سایر اسناد تقنینی گمرکی، به دو نوع ذیل می باشد:

۱- تخلفات اداری گمرکی: حکم مادهٔ یکصد وهشتاد و سوم این قانون از این امر مستثنی است.

۲- قاچاق اموال: مطابق احکام مندرج این فصل .

تخلفات اداری گمرکی

مادهٔ یکصد وهفتاد وهشتم:

(۱) تخلفات اداری گمرکی به سه کتگوری ذیل تصنیف می گردد:

۱- تخلفات کتگوری اول.

۲- تخلفات کتگوری دوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د دريیمې کټګورۍ سرغړونې.

(۲) د لومړۍ کټګورۍ سرغړونې په لاندې ډول دي:

۱- ددې قانون د نهه څلوېښتمې مادې په (۲) فقره، د دوه پنځوسمې مادې په (۳) فقره، د څلورشپېتمې مادې په (۱) فقره، د اته شپېتمې مادې په (۱) فقره، شپږنوي يمې ، يوسلو دريیمې، يوسلو يوولسمې، يوسلو اووه ويشتمې او يوسلو دري دېرشمې مادې په حکمونو کې په درج شوو اجراآتو کې ځنډ چې د هغو مرتکب د هرې(فې) ورځې په وړاندې يا له ورځې څخه د هغې برخې د اندازې يا هغې اندازې معادل چې د حالاتو له په پام کې نيولو سره د ماليې وزارت په واسطه عنداللزوم ټاکل کېږي په ګمرکي اړونده کړنلاره کې د درج شوې جريمې په ورکړې مکلف دی.

۲- ددې قانون د اته پنځوسمې مادې د (۱) فقرې، د يوويشتمې مادې (۱) فقرې، د اتيايمې مادې (۱) فقرې، شپږنوي يمې او نهه نوې يمې مادو د حکمونو د مغايرو د مالونو د کيفيت،

۳-تخلفات کتگوری سوم.

(۲) تخلفات کتگوری اول قرار ذيل است:

۱- تأخير در اجراآت مندرج احکام فقرهٔ (۲) مادهٔ چهل ونهم، فقرهٔ (۳) مادهٔ پنجاه ودوم، فقره (۱) مادهٔ شصت و چهارم، فقرهٔ (۱) مادهٔ شصت وهشتم، مواد نود وششم، يکصد وسوم، يکصد ويازدهم، يکصدو بيست وهفتم و يکصد وسی وسوم مندرج اين قانون که مرتکب آن مکلف به پرداخت جريمهٔ مندرج طرز العمل مربوط گمرکی در برابر فی روز يا اندازهٔ معادل برای حصه از روز يا اندازهٔ که با درنظر داشت حالات توسط وزارت ماليه عندالزوم تعيين گردد، می باشد.

۲- ارايهٔ معلومات نامکمل وغير دقيق در مورد کيفيت، کميت و قيمت يا منشاء اموال مغاير احکام مواد فقرهٔ (۱) مادهٔ پنجاه وهشتم، فقرهٔ (۱) مادهٔ شصت و يکم، فقره (۱) مادهٔ هشتادم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کميت يا منشاء په هکله د نابشپړو او نا دقيقومعلوماتو وړاندې کول په هغهٔ صورت کې چې په کيفيت، کميت يا بيه (قيمت) کې اختلاف په اظهارليک يا نورو ګمرکي سندونو کې درج د کميت، کيفيت يا بيې له (۵) فيصده څخه کم (لږ) وي، مرتکب ته يې ليکلی اخطار ورکول کېږي.

که چېرې ګمرکي محصول د اظهارليک پرمخ (په رويت) سره محاسبه شي او د (۵) فيصده په اندازه يا له اصلي مبلغ څخه زيات کم وي، مرتکب يې په لاندې توګه جريمه کېږي:

- له (۱۰ څخه تر ۲۰) فيصده پورې کسر په صورت کې، د کسر دوه برابره.
- له (۲۱ څخه تر ۴۰) فيصده پورې کسر په صورت کې، د کسر درې برابره.
- له (۴۱ څخه تر ۶۰) فيصده پورې کسر په صورت کې، د کسر څلور برابره.

مواد نود و ششم ونود و نهم اين قانون در صورتی که اختلاف در کيفيت، کميت يا قيمت کمتر از (۵) فيصد کميت، کيفيت يا قيمت مندرج اظهارنامه يا ساير اسناد گمرکی باشد، به مرتکب آن اخطار تحريری داده می شود.

هرگاه محصول گمرکی به رويت اظهارنامهٔ گمرکی محاسبه گردد و به اندازهٔ (۵) فيصد يا بيشتر ازمبلغ اصلی کمتر باشد، مرتکب آن طور ذيل جريمه می گردد:

- در صورت کسر (۱۰ الی ۲۰) فيصد، دو برابر کسر.
- در صورت کسر (۲۱ الی ۴۰) فيصد، سه برابر کسر.
- در صورت کسر (۴۱ الی ۶۰) فيصد، چهار برابر کسر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له (٦١ څخه تر ۸۰) فيصده پورې کسر په صورت کې، د کسر پنځه برابره.
- له (۸۱ څخه تر ۱۰۰) فيصده پورې کسر په صورت کې، د کسر شپږ برابره.
په هغهٔ صورت کې چې سرغړونه د ترانزيت په پړاو کې صورت ومومي، دغه مجازات يوازې له ليکلي اخطارڅخه وروسته د سرغړونې د تکرار په صورت کې، تطبيقيږي.
په نورو حالاتو کې د سرغړونې د تکرار په صورت کې، مرتکب د ګمرکي محصول د کسر شوي مبلغ له يوهٔ څخه تر دوه چنده پورې دمعادل جريمې پر ورکړې مکلف کيږي، پدې شرط چې د مخه ورته اخطار ورکول شوی وي.
۳- په هغهٔ صورت کې چې ثابته شي، د غلطو معلوماتو وړاندې کول دې د محاسباتي تېروتنو له امله يا له ښه نيت سره يوځای د اظهارليک د ترتيب پر وخت صورت موندلی وي، د ګمرک مامورين کولای شي، پدې فقره کې

- در صورت کسر (٦١ الی ۸۰) فيصد، پنج برابر کسر.
- در صورت کسر (۸۱ الی ۱۰۰) فيصد، شش برابر کسر.
در صورتيکه تخلف در مرحله ترانزيت صورت گيرد، اين مجازات صرف در صورت تکرار تخلف بعد از اخطار تحريری، تطبيق می گردد.
در صورت تکرار تخلف در ساير حالات، مرتکب مکلف به پرداخت جريمه معادل يک الی دو چند مبلغ کسر شده محصول گمرکی می باشد، مشروط بر اينکه قبلاً برايش اخطار داده شده باشد.
۳- در صورتی که ثابت گردد، ارايهٔ معلومات غلط بالاثر اشتباهات محاسباتی يا توأم با حسن نيت حين ترتيب اظهارنامهٔ گمرکی صورت گرفته باشد، مامورين گمرک ميتوانند جريمه و اخطار مندرج اين

(c) ketabton.com: The Digital Library



درج شوې جریمه او اخطار لغو کړي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې له ګمرک څخه د مالونو له ترخیص وروسته، تثبیت شي چې د ګمرک مامورینو د مالونو د کیفیت، کمیت او منشاء په هکله نابشپړ او نا دقیق معلومات منلي وي، د عدلي تعقیب په غرض واکمنو مراجعو ته معرفي کیږي.

(۳) د دوه یمې کټګورۍ سرغړونې په لاندې ډول دي:

۱- ددې قانون د شلمې، نهه پنځوسمې او یوشپېتمې مادو له حکمونو څخه سرغړونه چې مرتکب ته یې د ګمرک د مامورینو لخوا د اصلاح په اړه اخطار او لارښوونه په لیکلې توګه صادر خو په ټاکلې موده کې، اخطار رعایت نکړي.

۲- ددې قانون په دوه پنځوسمه ماده، د دوه شپېتمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو حکمونو یا د ګمرک تر څارنې یا تر پلټنې (بازرسۍ) لاندې مالونو په هکله د ګمرک د مامورینو د لارښوونو نه رعایتول یا د اته څلوېښتمې

فقره را لغو نمایند.

۴- در صورتی که بعد از ترخیص اموال از گمرک،تثبیت گردد که مامورین گمرک در مورد کیفیت، کمیت یا منشاء اموال معلومات نامکمل و غیر دقیق را پذیرفته باشند، غرض تعقیب عدلی به مراجع ذیصلاح معرفی می گردند.

(۳) تخلفات کتگوری دوم قرار ذیل است:

۱- تخلف از احکام مواد بیستم، پنجاه و نهم و شصت و یکم این قانون که برای مرتکب آن از طرف مامورین گمرک اخطار و هدایت مبنی بر اصلاح طور کتبی صادر ولی در مدت تعیین شده، اخطار را رعایت ننماید.

۲- عدم رعایت احکام مندرج مادهٔ پنجاه ودوم، فقرهٔ (۱) مادهٔ شصت ودوم یا هدایات مامورین گمرک در مورد اموال تحت نظارت ویا تحت بازرسی گمرک یا تخلف از فقرهٔ (۵) مادهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادې له (۵) فقرې او د دوه شپېتمې مادې له (۲) فقرې څخه سرغړونه.

۳- غیر مجاز ځای (محل) ته ددې قانون د اووه څلوېښتمې مادې په (۵) فقره، اته څلوېښتمه او نهه څلوېښتمه مادو، د یو پنځوسمې مادې په (۱) فقره، شپږنوي یمه، نهه نوي یمه، یوسلو اته دېرشمه او یوسلو اووه څلوېښتمه مادو کې د درج شوو ګمرکي مالونو لېږدول (انتقال).

۴- د ګمرک مامورین چې ددې فقرې په (۱، ۲ او ۳) اجزاوو کې د درج شوو حکمونو په تطبیق کې سرغړونه وکړي یا یې پداسې ډول عمل کړی وي چې د واردوونکي په ګټه تمام شي او دعوایدو کسر منځته راوړي.

(۴) د درېیمې کټګورۍ سرغړونې په لاندې ډول دي:

۱- ګمرک ته له ترجیحي تعرفې څخه د استفادې لپاره د حقایقو د ناسم او عمدي اظهارلیک وړاندې کول.

۲- ددې قانون د دري شپېتمې مادې د (۲) فقرې، شپږ اویایمې مادې او دري

چهل و هشتم و فقرهٔ (۲) مادهٔ شصت و دوم این قانون.

۳- انتقال اموال گمرکی مندرج فقرهٔ (۵) مادهٔ چهل و هفتم، مواد چهل و هشتم و چهل و نهم، فقرهٔ (۱) مادهٔ پنجاه ویکم، مواد نود وششم، نود و نهم، یکصد و سی وهشتم و یکصد و چهل وهفتم مندرج این قانون را به محل غیر مجاز.

۴- مامورین گمرک که در تطبیق احکام مندرج اجزای (۱ ،۲ و۳) این فقره تخلف ورزند یا به نحوی عمل کرده باشند که به نفع وارد کننده، تمام شده و کسر عواید را به میان آورد.

(۴) تخلفات کتگوری سوم قرار ذیل است:

۱- ارایهٔ اظهارنامهٔ نادرست و عمدی حقایق جهت استفاده از تعرفهٔ ترجیحی به گمرک.

۲- اجراآت مغایر حکم فقرهٔ (۲) مادهٔ شصت وسوم، و مواد هفتاد و ششم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتیایمې، یوسلو نهه څلوېښتمې او یوسلو پنځوسمې مادو د حکم مغایر اجراآت چې د هغو موخه د ګمرکي تقنیني سندونو د حکمونو له تطبیق څخه مخنیوی وي.

## مجازات

### یوسلو نهه اویایمه ماده:

(۱) هغه شخص چې ددې قانون د یوسلو اته اویایمې مادې په (۳) فقره کې درج د دوه یمې کټګورۍ د سرغړونو مرتکب شي، ددې قانون د پنځه ویشتمې مادې د حکم له په پام کې نیولو سره، د ګمرکونو د لوی ریاست له لارښود سره سم د اړوندو مالونو د ارزښت له یو څخه تر پنځو (۱ تر۵) فیصده معادل پورې، نغدي جریمه کېږي.

(۲) هغه شخص چې ددې قانون د یوسلو اته اویایمې مادې په (۴) فقره کې درج د دریېمې کټګورۍ د سرغړونو مرتکب شي، ددې قانون د پنځه ویشتمې مادې د حکم له په پام

هشتاد و سوم، یکصد و چهل و نهم و یکصد و پنجاهم این قانون که هدف آن جلوگیری از تطبیق احکام اسناد تقنینی گمرکی باشد.

## مجازات

### مادۀ یکصد وهفتاد ونهم:

(۱) شخصی که مرتکب تخلفات کتگوری دوم مندرج فقرۀ (۳) مادۀ یکصد وهفتاد وهشتم این قانون گردد، با نظر داشت حکم مادۀ بیست وپنجم این قانون معادل یک الی پنج (۱الی۵) فیصد ارزش اموال مربوط مطابق رهنمود ریاست عمومی گمرکات، جریمۀ نقدی می گردد.

(۲) شخصی که مرتکب تخلفات کتگوری سوم مندرج فقرۀ(۴) ماده یکصد و هفتاد وهشتم این قانون گردد با نظر داشت حکم مادۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



كې نيولو سره د ګمركونو د لوی رياست له لارښود سره سم د اړوندو مالونو د ارزښت له پنځو څخه تر لس(۵ تر ۱۰) فيصده معادل پورې نغدي جريمه كېږي.

(۳) د ګمرک مامورين چې ددې قانون د يوسلو اته اويايمې مادې په دوه يمه او درېيمه كټګوريو كې د درج شوو سرغړونو مرتكب شي، ددې قانون د پنځه ويشتمې مادې د حكم له په پام كې نيولو سره، عدلي تعقيب لپاره واكمنو مراجعو ته معرفي كېږي.

